محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۲۲

# محسن تفسیر

له قرآنه یو څرک

Ketabton.com

## ۱۱۴ ـ ث «ناس» سورة

لیک او څېړنه :

احمد حسین «عنایت»

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ناس سورة تشريح
ليک او څېړنه:
احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم
د لوراند او لورين الله په نامه

# سورة الناس

## د ناس سورة (۱۱۴)

**سريـزه:** د «نـاس» سـورت مکـي دی چـې (٦) آيتونـه يـوه رکـوع لـري، پـه تـلاوت کـې (۱۱۴) پـه نـزول کـې (۲۱) سـورة دی د «فلـق» لـه سـورة څخـه وروسـته نـازل شـوی دی. ددې سـورة نـوم «نـاس» د هغـه لـه لـومړي آيـت څخـه اخيسـتل شـوې، چـې د «نـاس» کليمـه ددې سـورة پـه پنځو آيتونو کې تکرار شوې ده.

د دې سـورت د نـزول د زمـانې او ځـای پـه اړه هـم لکـه څنګـه چـې مخکـې مـو د نـورو سـورتونو پـه تـرڅ کـې ورتـه نغوتـه کـړې، د نـورو ډېـرو سـورتونو پـه څېـر ددې سـورة د نـزول پـه اړه هـم د مفسـرينو تـر مـنځ اختلاف دی چې ځينـي دا سـورت مکـې ګڼـي او ځينـي يـې مـدني ګڼـي. او دا اخـتلاف د هـاغو روايتونـو پـر بنـا دی چـې ددې سـورت د نـزول د سبب پـه اړه نقـل شـوي دي چـې روايتونـه يـې پـه مختلفـو تفسـيرونو کـې راغلـي دي چـون واضـح او ثابـت نـه دي او بيـا ذکـرول يـې اړيـن نـه دي، خـو د يـوې خـبرې يادونـه اړينـه بـولم هغـه دا چـې ددې سـورت د تـلاوت د ضرورت پـه نظـر کـې نيولـو سره د حضـرت رسـول اکـرم(ص) لـه لـور پـه مختلفـو وختونـو او موقعيتونـو کـې مختلفـو خلکـو تـه د ځيزونـو لـه شره د پـالونکي ځښـتن دُرشـل تـه د پنـاه وړلـو تلقـين شـوی دی او پـه مختلفـو مهالونو او مقـامونو کـې يـې بـار بـار دا سـورة هـم لکـه د مخکينـي سـورة پـه څېـر د وخـت لـه تقاضـا سره سـم تـلاوت کـړی دی نـو هـر چـا چـې هـره واقعه نقل کـړې، او يـا د هـر چـا لـه قولـه چـې هـره واقعـه روايـت شـوې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


سـورت يـې د هماغـې زمـانې لـه پېښـې او مکـان سره سـم نـازل شـوی او اړونـد ګڼلـی دی. خـو سـمه او جوتـه خـبره داده چـې دا سـورة لکـه څنګـه چـې پـه پيـل کـې وويـل شـول مکـي دی او لـه دې سره د سـورة پـه مضمون کـې لـه غـور کولـو سره هـم دا محسوسـېږي چـې دا سـورت لکـه د مخکينـي سـورة پـه څېـر د مکـې د ابتـدايي دور لـه نـازل شـوو سـورتونو څخـه دی. او همـدا راز د ډېـرو روايتونـه لـه مخـې دا سـورة او د فلـق سـورة يـو ځـای نـازل شـوي دي او د ډيريـو لـه نظـره د فلق سـورة مکـي دی نو دا سورة هم مکي ګڼل کېږي.

مـوږ سره لـه دې چـې د قرآن پـه آيتونـو کـې د ځيرنـې او تـدبر پـر مهـال پـه مختلفـو روايتونـو او نقلونـو کـې د ځـان ښـکېلول، د مهـال او ځـواک او ژواک بربـاد کېـدل او تلـف کېـدل ګڼـو، او زمـوږ لـه ليـده پـه قـرآن کـې د ځيرنـې او تـدبر سـمه او بهـتره طريقـه پخپلـه د قرآنکـريم آيتونـو تـه مراجعـه کـول دي او د آيتونـو د څېړنـې او تفسـير پـر مهـال د قـرآن لـه نـورو اړونـدو آيتونـو څخـه مرسـته اخيسـتنه سـمه او اړينـه ګڼـو، چـې دا طريقـه د قرآنکـريم د تفسـير او څېړنـې لپـاره تـر ټولـو غـوره او اړينـه طريقـه ده. خـو بيـا هـم کـه څـوک لېـوال وي پـه دې اړه دې د بېلګې پـه توګـه د «مولانـا مـودودي» تفهيم القـرآن تـه مراجعـه وکـړي، چـې نومـوړي پـه دې اړه، ددې سـورة اړونـد ډېـر روايتونـه نقـل کـړي او ورسره جوخت يې خپل نظر هم څرګند کړی دی.

## له مخکيني سورة سره اړيکه او د سورة د منځپانګې چورليځ:

د دوو سورتونو «فلق» او «ناس» هم غـږي او د موضـوع ورتـه والـی لـه ډېرو اړخونو څرګند دی. دا سورتونه چې «معوذتين» نومـول شـوي او قـرآن، پالونکي څښتن ته له پناه وړلـو سره ختمـوي. هـر دواړه سـورتونه د «قُـل» لـه فرمان سره چې رسول اکرم [يا هر وړ مسلمان] ته خطاب دی پيل شوي او له

(c) ketabton.com: The Digital Library


هاغو شرونو څخه د مصئونیت او ژغورنې طریقه څرګندوي، چې د رسالت او هدایت په مسیر او لارلیک کې شتون لري. د مؤمنینو د حفظ او ساتنې یوازینۍ وسیله او له مختلفو انحرافونو او شرک او کفر او نفاق څخه د هغوی د عقیدو او ایمان پاسوال، په دې دوو سورتونو کې پالونکي څښتن [رب] ته آګاهانه پناه وړل معرفي شوي دي. له دې توپیر سره چې د فلق په سورت کې له خارجي شرونو یادونه کوي او د ناس په سورة کې له داخلي شرونو څخه چې ځمکه او بستر یې د انسان په نفس کې دننه ځای لري او له خارجي وسوسو څخه منفعل او اغېزمن کېږي. انسان تل له شیطاني وسوسو سره مخامخ دی، او جن او انس شیطانان هڅه کوي د هغه په قلب او روح کې نفوذ وکړي، په هره کچه چې په علم کې د انسان مقام پورته لاړ شي او موقعیت یې په ټولنه کې درونـد او ډېر شي، د شیطان وسوسې زیاتې او شدیدي کېږي، چې هغه له سمې لارې کوږ کړي او له عالِمي فساد سره عالَم برباد کړي. دا سورة رسول اکرم(ص) او د هغه رښتینو او وړ پلیونانو ته فرمان ورکوي چې د ټولو وسوسه ګرانو له شره خدای تعالی ته پناه یوسي.

ددې توضیح چې د ځینو شرونو سرچینه او بنسټ د انسان له وجوده خارج وي او د سړي له کړنو څخه مستقل او خپلواک پر هغه وارديږي، چې دا ډول شرونه یې د فلق په سورة کې له ورته او متشابه تعبیرونو سره ښوولي دي چې د مختلفو خارجي شرونو لپاره یو مثال او معیار وي: د ټولو هاغو هر څه له شره، چې خدای تعالی خلق کړي او کېدای شي [په نسبي توګه] انسان ته پېښ شي خدای ته پناه وړي [من شر ما خلق]، همدا راز د نغاړونکي، خپرې، مسلطې، یرغلګرې او برلاسې تیاره له شره [وغاسق اذا وقب] چې له هر ډول ظلم او ضلالت څه یو تعبیر دی؛ هغه مهال چې پر سړي برلاسې او غالب شي. او په غوټو کې د ساحرانه پُوکوونکو له شره، چې د خلکو د پرګنو د فریب او فساد لپاره د شرک او جهالت د فرهنګ له تبلیغاتو، مکرونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


تزويرونو ځخه يو تمثيل دی [ومن شر النفاثات فی العقد] تر د هاغه حاسد له شره چې پټې او ويده جهالت يې ويښ او ځرګند شوی وي [من شر حاسد اذا حسد]. له دې ټولو شرونو ځخه کېدی شي «رب الفلق» تـه لـه پناه وړلـو سره خپل ځان مصئون او خوندي کړي، چې د تيارو د پردو بېرتـه کـوونکی او د ښکارندو د ودې او نجات د نور او رڼايي لـواړوونکی او ځرګنـدوونکی دی، دا تنګې او تياره پردې کېدی شي د عالميانو د [رب] پالونکي ځښتن، د هدايت نور ته له توسل سره له منځه يوړلې شي، چې د رڼا راوړونکی او تيارو د پـردو ځيرې کونکی او بېرته کونکی دی.

خـو نـورې پـردې هـم شـتون لـري چـې د سـړي زړه پوښـوي او لـه دننـه د هغـه د زړه رڼـا تـه کيـږدی وهـي. دا داسـې يـو شر دی چـې د انسـان لـه سرکښ او سرغـاړي نفسـه سر وهـي او لـه دننـه هغـه بـيمار او نـاروغوي. دا سـمه ده چـې انسـان فطرتـاً سـپېڅلی او سـالم دی او نشـي کېـدی پخپلـه د شرونـو پيليـزه او سرچينـه وي، خـو داسـې پنځـول شـوی دی چـې د خيـر او شر دواړو پـه نسـبت اغېـز منـونکی او قبلـوونکی اوسي. پـر دې بنـا د پټـو او ښـکاره [مـن الجنـة و النـاس] عـاملونو او لاملونـو د وسوسـو او القـاء ګـانو پـه مقابـل کـې خپـل ځـان بـايلي، چـې لـه مختلفـو رنګونـو، طرحـو او تـدبيرونو سره لـه شـا او مخکـې پـر هغـه وارديـږي او سـينه يـې ددې وسوسـو پـه تحريـک د حـرص او حسـد او د ژورو تـورو تيـارو کنـدو او غـارونو لـه دوپجنـې هـوا تـنفس کـوي او د کينې او دښمنۍ او د ځناورتوب په فضا کې وده کوي:

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ.الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ.

د انسـان پـه ژونـد کـې پـرې ډېـر مصـيبتونه او شرونـه لکـه نيـز [سـيلاو]، زلزلـه، جکـړ، توپـان، اورغـورځي او نـور.. راځـي، چـې خـارجي او عـارضي زمينـه او ډګـر لـري. خـو کلـه کلـه مصيبت او شر د ميکـروب لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاري د هغه په دننه کې ځاله جوړوي او په وجود کې دننه يې ځای نيولی وي او هلته په پټنځای کې د يرغل د موقع په تمه چمتو او تيار ناست وي، او که د انسان دفاعي ځواک لړ شوی وي، ناروغي يې له پښو غورځوي. د هر دواړو شرونو په مقابل کې، انسان کولی شي خپل ځان وساتي. د هاغو په وړاندې چې خارجي دي کولی شي اسبابونه او وسيلې په کار واچوي او له خپله ځانه مراقبت او ساتنه وکړي. او د هغوی په وړاندې چې داخلي دي کولی شي خپل ژغورندويه دفاعي ځواک تقويه کړي او له قوي او سالم جسم سره د ميکروبي القاء شوو زهرجنو توکو په مقابل کې مقاومت کوي.

د فلق سورة د لومړنۍ ډلې شرونو د معرفي کولو په مقام کې او د ناس سورة د دويمې ډلې شرونو د معرفي کولو په مقام کې بريښي. هغه څوک چې د الهي هدايت کتاب پای ته رسوي، خپل پالونکي ښښتن [ربّ] ته له پناه وړلو سره کولی شي له هر دواړو ډولو شرونه څخه، چې د انسان د هدايت په لارليک کې شتون لري، خپل ځان مصئون او خوندي کړي.

دا سورة چې د قرآن په پای کې ځای لري، له ځانه د مخکيني سورة پر اړيکې سربېره، د قرآن له لومړي سورة [حمد] سره هم يوه ظريفه او غورياليې اړيکه لري، چې د وينا چورليز يې، په هر دواړو سورتونو کې د خدای تعالی پر ربوبيت، الوهيت او مالکيت څرخي:

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ. مَلِكِ النَّاسِ. إِلَهِ النَّاسِ. ...

او د حمد په سورة کې:

«بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ. الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ. الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ. مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ....». په دې ترتيب د قرآن کريم پيل او پايله له يوه حقيقته چې خالص «توحيد» دی خبره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿۱﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿۲﴾ إِلَهِ النَّاسِ ﴿۳﴾ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿۴﴾ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ﴿۵﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿۶﴾

أَعُوذُ = پناه وړم، پناه غواړم ـ عوذ = له شره پناه اخېستنه، د پناه ورکوونکي په حريم کې ننوتل ـ رَبِّ = پالونکی څښتن، پروردګار، ـ نَّاسِ = خلک، پېژاندي وګړي ـ مَلِكِ = پادشاه، حکمران، واکمن، د اختيار خاوند، خاوند، څښتن ـ إِلَهِ = خدای، معبود، معشوق، نمانځی ـ وَسْوَاسِ = په بيا بيا وسوسه کوونکی، په ځلونو او تکرار له پيژاندي او يا ناپېژاندي لاملونو په توسه لمسونه او پارونه ـ خَنَّاسِ = غلچکی يرغلګر، مخکې او شا ته تلونکی، پټ او ښکاره کېدونکی، شته او نشته کېدونکی، پټېدونکي را پټېدونکي، خرپ او ترپ کوونکی، پرله پسې ستنېدونکی ـ يُوَسْوِسُ = وسوسه کوي، وسوسه اچوي ـ صُدُورِ = زړونه، سينې، د انسان روحي ظرفيت ـ جِنَّةِ = پټ، پردی، نابلد، ناپېژاندي وګړي او لاملونه ـ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿۱﴾

**ووايه: د خلکو ربّ**[۱] [پالونکي څښتن] [= د هغوی حقيقي ارباب او د اختيار خاوند] **ته پناه وړم،**

مَلِكِ النَّاسِ ﴿۲﴾

[همدا] **د خلکو مالک او واکمن ته،**[۲]

إِلَهِ النَّاسِ ﴿۳﴾

[همدا] **د خلکو حقيقي معبود** [او خدای] **ته،**[۳]

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| قُلْ | أَعُوذُ | بِرَبِّ | النَّاسِ | مَلِكِ | النَّاسِ | إِلَهِ | النَّاسِ |
| ووايه | زه پناه وړم | پالونکي څښتن ته | د خلکو | پادشاه | د خلکو | خدای | د خلکو |

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿۴﴾

**د پټېدونکي**[۴] [= تل مخ ته راتلونکی او شا ته تلونکی] **وسوسه ګر**[۵] **له شره،**

(c) ketabton.com: The Digital Library


الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ﴿٥﴾

هاغه چې د خلکو په سينو کې وسوسه اچوي،(٦)

مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

[که] له جن [= ناپېژاندو عواملو] وي او که [له خپلو] خلکو(۷)

| فِي | يُوَسْوِسُ | الَّذِي | الْخَنَّاسِ | الْوَسْوَاسِ | شَرِّ | مِنْ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| په ......[کې] | وسوسه اچوي | هغه چې | غلچکي يرغلګر | د وسوسه اچوونکي | شره | له |

| وَالنَّاسِ | الْجِنَّةِ | مِنَ | النَّاسِ | صُدُورِ |
|---|---|---|---|---|
| او خلکو [پېژاندو] | جن [ناپېژاندو] | له | د خلکو | سينو ...[کې] |

## د سورت د مفرداتو لنډه تشريح:

۱ ـ دا سمه ده چې ربوبيت [ارباب او د اختيار خاوند توب] د ځواک او قدرت له درې ګونو څوکو څخه يوه ده، خو انسانانو عمدتاً د نورو دوو څوکو نماينده ګان هم د خپل «ارباب» په توګه نيولي دي؛ قـرآن د يهوديـانو او مسـيحيانو پـه اړه راوړي دي چې «خپل احبار او رهبان يې د خدای پر ځای «ارباب» نيولي دي» [توبه۳۱(۹:۳۱)]. يوسف خپلو دوو زنـداني ملګرو ته وويل: «آيا مختلف اربابان بهتر دي يا پر ټولو مسلط او برلاسي يو خدای ؟» [يوسف۳۹ (۱۲:۳۹)]. د خـدای تعـالی پـه فرمـان کـې د اسلام پيغمبر ته هم د اهل کتاب سره د وحدت لپاره يو له دريو وړانديز شوو شرطونـو همـدا، يو د بل ارباب نـه نيـول دي [آل عمـران٦۴(۳:٦۴)]. هـيڅ يـو مؤحّـد مجـاز نـه دی پيغمـبران او پرښـتې خپـل اربـاب ونيسـي [آل عمـران۸۰(۳:۸۰)]. «ربّيون»ــو [يـا ربانيّونـو] خـدای تعـالی د خپـل واقعـي ارباب پـه توګـه پېژانـد [مائده۴۴(۵:۴۴) او ٦۳(۵:٦۳)]، او پيغمبرانو خپلو پلويانو او پيروانو ته ويل: تاسو پخپلـه د آسـماني کتـاب لـه تعليـم او تـدريس سره ربّ پېژنـدی شـئ [آل عمـران۷۹(۳:۷۹)]. لـه فرعـون سره د موسی(ع) ټولې محاورې د ربوبيت پر سر وې، نه الوهيت [شعراء۲۳(۲٦:۲۳) تـر ۲۸]، او له ابراهيم(ع) سره د نمرود ټوله دښمني او دليل راوړنه د ربوبيّت په اړه وه ولې « أَلَمْ تَـرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيـتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ» [بقره۲۵۸(۲:۲۵۸)].

(c) ketabton.com: The Digital Library


آيا [د] هاغه چا [ماجرا] ته دې پاملرنه کړې چې [د تکبَر او ځواک له دريځه] له ابراهيم سره يې د هغه د پالونکي څښتن په انکار کې محاجّه [او استدلال] وکړ؟سره له دې چې هغه ته واکمني خداى ورکړې وه! هغه مهال چې ابراهيم وويل: زما پالونکى څښتن هاغه څوک دى چې [پرله پسې] ژوند ببښي او [د زوږتيا د قانون مطابق] مړه کوي يې. [نمرود] وويل: زه يم چې ژوندي کوم او مړه کوم! ابراهيم وويل: نو [چې داسې ده] خداى تعالى لمر له ختيزه راخېژوي، نو [که ته د هستى چلوونکى او واکمن يې] ته هغه له لوېديزه راوخېژوه! نو [له دې استدلال سره] هغه چې انکار يې کړى وو [مات او] هک پک شو. او خداى ستمگر خلک [د نېمکرغى او بريالیتوب] موخې ته نه رسوي.

د شمېر له ليده د «ربّ» نوم د «الله» له نوم وروسته په يوازې توگه په قرآن کې د خداى تعالى د کارول شوو ټولو نومونو سره [پرته له الله] برابر دى؛ د «ربّ» نوم د رَبَبَ له ريښې [د اختيار خاوند او د اداره کوونکي ارباب په معنا] ۹۸۰ ځلې، او د رَبَوَ له ريښې [د روزونکې، وده ورکوونکي او اوچتوونکي په معنا] ۲۰ځلې، په ټوله کې ۱۰۰۰ ځلې په قرآن کې تکرار شوى دى، په زړه پورې دا چې د «اللّه» نوم هيڅکله له ضمير سره نه دى راغلى، خو د ربّ نوم [په ۹۷۰ موردونو کې چې خداى ته نسبت ورکول شوى] په ټوله کې له ضمير سره يا د مضاف په بڼه راغلى دى. [لکه: رَبِّکُم، رَبِّ السَّمَواتِ وَالاَرْض] او يوازې دوه ځلې له نورو صفتونو سره په ترکيب کې ذکر شوى دى [ربّ غفور، ربّ رحيم].

ربوبيّت، لکه مديريت، معلمي او مربي گري دوه اړخيز چار دى او پر يو ډول دوه اړخيزي اړيکې او تبادلي دلالت کوي، له دې کبله «ربّ» هيڅکله په خپلواکه بڼه له ضمير يا مضاف پرته په قرآن کې نه دى راغلى. مشرکين ددې مستقيمې او نېغې اړيکې له نفې کولو سره، واسطو او نورو عواملو ته متوسل کېدل او هغوى يې د خداى په نزد خپل شفيعان گڼل.

۲ ـ ملوکيت د توحيد د مثلث له دريو گوټونو څخه يو گوټ دى. ددې کليمې مشتقونه لکه: مَلِک [پادشاه، ټولواک]، مِلک، مُلک، مالک، ملائکه، او ... په ټوله کې ۲۰۶ ځلې په قرآن کې تکرار شوى دى چې د پام وړ شمېر دى، چې د خداى «مالک»والى، د هستى د جهان په تصرف، واکمنى او حکم چلَونه کې د هغه ځواک او قدرت څرگندوي. دا جملې چې د آسمانونو او ځمکې مُلک منحصراً خداى ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


اړوند دی [وَ لِلَّهِ مُلْکُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ – لَهُ مُلْکُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ] ۲۲ ځلې په قرآن کې راغلي دي. همدا راز ټینګارونه لکه: بِيَدِهِ الْمُلْکُ [ملک د هغه د قدرت په لاس کې دی]، وَلَمْ يَکُنْ لَهُ شَرِيکٌ فِی الْمُلْکِ [د هغه لپاره په مُلک کې شریک نه شته] دا ډول مطلقه توانايي او ځواکمني بيانوي. که هم يو چا له ملک څخه کومه برخه او سهم وړی وي او له هغه پر يوې برخې تصرف او لاسرسی ولري، يو بخ شش او لورونه ده چې خدای تعالی موقتاً په لنډمهالې توګه په اختيار کې ورکړې ده: «وَاللَّهُ يُؤْتِی مُلْکَهُ مَنْ يَشَاءُ» [او الله خپل ملک هر چا ته چې وغواړي – «د يو لړ نظامونو مطابق» – ورکوي]. دلته د مُلک معنا همدا واکمني، بولندويي او حکم چلونه ده.

په قرآن کې خدای تعالی مَلِک هم نومول شوی دی، چې «د هستۍ د جهان د پادشاه يا ټولواک» مفهوم لري. هغه هم بې نهايت مقتدر مطلق پادشاه [مَلِيکٍ مُقْتَدِرٍ]. خو له کومې چې د تاريخ په اوږدو کې معمولاً پادشاهان په ناحقه واک ته رسېدلي دي، هغه «مَلِکُ الحَقّ» نومول شوی دی او له کومې چې ډېری وخت سلطانان او واکمنان له واکه په ناسمې ګټې اخېستو سره تورن، ناپاک او فاسد ول، خدای تعالی «مَلِکُ القُدُّوس» [بې نهايت پاک او سپېڅلی پادشاه] معرفي شوی دی. نو بې جهته نه دی چې د قرآن آخرين سورة داسې يو پادشاه ته له پناه وړلو سره نېکه پای او حُسن اختتام ومومي.

هغه يوازې ملک الناس [د خلکو پادشاه او ټولواک] په دنيا کې نه دی، د جزا ورځ هم د هغه پر حکم او فرمان چلېږي او هغه «مالک يوم الدين» [د جزا د ورځې حکم کوونکی او نيواومن] دی. که په دنيا کې يې په لنډمهالې توګه په انتخاب کې اختيار او اراده موږ ته عنايت کړې او بښلې ده، مطلقه ملوکيت يې په آخرت کې څرګندېږي. «لمن الملک اليوم لله الواحد القهار» [د نن ورځې مالکيت د چا دی؟ د برلاسي واحد خدای]. که څوک د ټولو څيزونو مطلق مالکيت د خدای په انحصار کې وګڼي او د قدرت او ثروت د اربابانو او دنيا پالو پانګوالو د اعتباري مالکيت لپاره اصالت قائل نه وي، د توحيدي مثلث په پېژندنه کې يې مهم ګام اوچت کړی دی.

۳ ـ «اِلَه» يو لغت دی چې د هر هغه څه لپاره چې انسان يې د معبود په توګه نيسي، که هغه حق وي يا با طل وي، استعمالېږي. خو «الله»، له معرفه

(c) ketabton.com: The Digital Library


الـف او لام سره «الــه» [معبــود]، لـه واحـد خــالق څخـه يـو تعريـف دی چـې د نمـانځنې لپـاره يـوازينی وړ معبـود ګڼـل کېـږي. د ټولـو پيغمبرانـو بلنـه او د «شرک او توحيـد» پـه مبـارزه کـې اصـلي مسـئله د «ډېـرو خـدايانو» پـه مقابـل کـې «د يـو خـدای» تبليـغ دی. پـه الوهيـت کـې بلـه مهمـه نکتـه، جامعيـت او لـه هغـه څخـه د انحـراف ډول ډول والـی دی؛ د ځـان پـالو الهـه د هغـوی د خپـل نفـس هـوا ده [فرقـان۴۳(۲۵:۴۳) او جاثيـه۲۳(۴۵:۲۳)]، د يـو شـمېر کسـانو لپـاره: خوسـکی [ طه۸۸(۲۰:۸۸)]، بُـت [انبيـاء۳٦ (۲۱:۳٦)]، پيغمـبران [نحـل۵۱(۱٦:۵۱) او مائـده۷۳(۵:۷۳)] او نـور مختلـف ډولـه الهـه ګـاڼي وي او دي چـې کـولی شي د هنر، علـم، ورزش پـه نوميـاليو کـې او هـر هغـه څـه چـې د انسـان دزړه څښـتن شي او هغـه پـر ځـان مـين کـړي، ځرګنـد شي. قـرآن ددې شرکونـو پـه سـتاينه کـې ذکـر کـړی دی: «ځېنـې لـه خلکـو د خـدای پـر ځـای ورسره شريکـان، سـاري او مـل نيسـي او هغـوی لکـه د خـدای پـه څيـر خوښـوي او مينـه ورسره کـوي! خـو هـاغو کسـانو چـې [رښـتينی] ايـمان راوړی دی تـر ټولـو زياتـه دوسـتي لـه خـدای سره لري» [بقره۱٦۵(۲:۱٦۵)].

ږ شري ټـولني هيڅکلـه لـه نمـانځنې او پـالنې خـالي نـه دي، اصـلي سـتونزه، په نمانځنـه کـې شراکـت او لـه توحيـده انحـراف دی. داسـې برېښـي چـې پـه خـدای پيژنـدنې، اسـلام پېژنـدنې يـا قـرآن پېژنـدنې کـې هـر راز څېړنـه او تحقيـق ددې مثلـث لـه دقيقـې او لـه ځيـر پېژنـدنې پرتـه شـونی نـه دی او هـيڅ يـو ايـمان بـه ددې مفهومونو معنايي اوېچې ته له تسليم مخکې د قبلېدو وړ واقع نه شي.

۴ – د «خَنّـاس» کليمـې د پوهېـدو لپـاره پـه قـرآن کـې لـه يـوازيني بـل مـورد څخـه، چـې دا کليمـه پـه [تکـوير۱۵(۸۱:۱۵)] سـورة کـې راغلـې ده، کېـدی شي مرسـته واخيسـتل شي: «فَـلاَ أُقْسِـمُ بِـالْخُنَّسِ. الْجَـوَارِ الْكُـنَّسِ.». د «جـوار» کليمـه پـر جريـان او حرکـت درلودلـو، او د «کُـنَّس» کليمـه پـر پوښـل شـوي او پـټ شـوي دلالـت کـوي. ګـواکې خنّـاس د شـيطان لـه تلپـاتې وسوسـه ګريـو څخـه وي چـې مَن شأ او سرچينـه يـې ناڅرګنـده ده او لکـه د اعتيـاد او روږديتـوب پـه څېـر ځـي او راځـي او لاس نـه اخلـي [واللّـه اعلـم]. د هـاغو کسـانو حالـت چـې يـو څيـز تـه وسـواس او حساسيت ولري کېدی شي د شيطاني وسوسو د پوهېدو لپاره يو مثال وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵ - د وسوسې فعل سربېره پر دې سورة، په دوو نورو سورتونو [اعراف۲۰ (۷:۲۰) او طه۱۲۰(۲۰:۱۲۰)] کې شيطان ته، او د [ق۱٦(۵۰:۱٦)] په سورة کې د انسان نفس ته نسبت ورکړل شوی، چې البته دا هم د شيطان القاء ده نو کېدی شي وسوسه هم د انسان په نفس کې د شيطان سينګارونې او لمسونې او غولوونکې وعدې وګڼل شي چې هغه له توحيدي [مثلث: ربوبيّت، ملوکيّت، او الوهيّت] پناهځای څخه د دنيايي معبودانو، اربابانو او مالکانو لور ته سوق کوي.

٦ – د صدر يا صدور اصطلاح، په ټولو۴۴ موردونو کې چې [مستقل يا له ضميرونو سره] په قرآن کې راغلې ده، مجازي معنا لري او نشي کېدی د هغه نسبت د سينې قفسې ته ورکړل شي. د انسان صدر، د هغه همدا روحي ظرفيت دی چې د قرآن په تعبير، [ضيق صدر يا سِعه صدر] تنګ ليدی يا د پراخ ليد لرونکی کېږي [انشراح۱(۹۴:۱)، حجر۹۷(۱۵:۹۷) او نور موردونه]، شفا مومي [توبه۱۴(۹:۱۴)، يونس۵۷(۱۰:۵۷)]، او مرضونه لکه: ويره [حشر۱۳(۵۹:۱۳)]، کِبر[غافر۵٦(۴۰:۵٦)]، نياز[حشر۹(۵۹:۹)]، پټچاري[نمل ۷۴ (۲۷:۷۴)، غافر۱۹(۴۰:۱۹)او...]، دښمني[اعراف۴۳(۷:۴۳)] او شيطان پکې ننوځي[ناس۵(۱۱۴:۵)]، خدای تعالی سينې ازمايي [آل عمران۱۵۴(۳:۱۵۴)] او خپل آيتونه په هغې کې نباسي [عنکبوت۴۹(۲۹:۴۹)] او .... په دې ترځ کې ۱۲ ځلې په قرآن کې د سينو پر ذات د خدای پر عليم والي ټينګار شوی دی.

۷ ـ د آدميانو اصلي نوم «ناس» دی، چې يوازې همدا د هغه د نورو نومونو [بني آدم، بشر، بريّه، انس او انسان] له مجموعې څخه کابو دوه برابره په قرآن کې تکرار شوی دی [کابو ۲۴۳ ځله]، ناس عام عنوان دی، لکه «مردم» په فارسي ژبه کې، يا «قوم» په عربي ژبه کې، يا «خلک او ولس» په پښتو ژبه کې. په قرآن کې ۱۹ ځلې د «يَا أَيُّهَا النَّاس» خطاب راغلی دی. يعنې ای خلکو، چې په مجموع کې عرب، عجم، ترک او فارس، افغان او هندي او شرقي او غربي .... ټول رانغاړي.

«ناس» له «انسان» [او انس] سره توپير لري؛ ناس د «نَوَسَ» له رېښې او انسان د «اَنَسَ» له رېښې دی. د نَوَسَ په کليمه کې نوسان يعنې تحرک او پويايي او خوځښت او غورځنګ نغښتی او پټ دی؛ دې موجود له ډېر پخوا [له زرګونو کلونو] راهيسې، غرونه او دښتې او سيندونه او دريابونه وهلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


او توانېدلي دي، ټولو لویو وچو ته لېږدېدنه او مهاجرت وکړي او له همدې ځیرنې، څېړنې، لټې او هڅې په توسه د ځمکې له اتموسفېره خارج شوی او افلاک ته یې سر رسېدلی دی!

خو د انسان [او اِنس] کلیمه له اُنس نیولو سره له یوې کورنۍ ده، اُنس او الفت، احساسات او عوا طف او آشنایي ته لېوالتیا او تولنیز ژوند او پخپلو کې د یو بل شاوخوا ته راټولېدل او خبرې اترې او وینا کول د انسان له ځانګړتیاو دي [احزاب۵۳(۳۳:۵۳)، نور۲۷(۲۴:۲۷)]، د ناس په کلیمه کې، د آدمي ټولنیز هویت او ځانګړتیا او د انسان په کلیمه کې، د هغه جسمي او روحي جوړښت او خپلواک فردي شخصیت، مثبت یا منفي، تر نظر لاندې دی. ناس او انسان متقابلې کلیمې لري؛ «ناس» تل د «جِنّه» او انسان تل د «جانّ» په مقابل کې راغلی دی. لکه: «خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ. وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ.» [رحمن۱۴(۵۵:۱۴) او ۱۵]. انسان یې [په کوزه ګرۍ او خاورین لوښو جوړونه کې کارېدونکي] کودړې په څېر له وچې ختې څخه وپنځوه، او جن یې د اور له ګډولې [او ترکیب] [ = خالصه انرژي – بې لوګي اور].

ویل کېږي جانّ د جن جمع دی چې پر یو ډول ناپېژاندی، پردېوالي او نامأنوسوالي دلالت کوي، په زړه پورې دا چې په قرآن کې یې مار او اژدها هم [د موسی د عصا په بدلېدو کې] «جانّ» نومولی چې د هغه له پټ، ناغوښتي او ډارونکي شتون څخه یو انځور دی. [نمل۱۰(۲۷:۱۰)، قصص۳۱(۲۸:۳۱)].

«انسان» د آدمي د نوع پر ذاتي ځانګړتیاو او «اِنس» د هغه پر فرد دلالت کوي او په قرآن کې د «اِنس» کلیمه ۱۴ ځلې د «جن» [د جان مفرد] په مقابل کې راغلې ده. ناس خلک دي او جِنّه پر پردیتوب یا ناپېژندل شوو موجوداتو او عواملو دلالت کوي. د پیغمبرانو منکرانو هغوی ساحر، کاهن او مجنون، او د اسلام د پیغمبر هم مهالو م شرکینو هم هغه جن وهلی او مجنون نوماوه، مقصد یې دا وو چې خبرې یې د خلکو د خبرو له جنسه نه دي، بلکې دیو او دَد او پیرۍ او ناپېژاندو موجوداتو یې په روح کې حلول کړی دی. [مؤمنون۲۵ (۲۳:۲۵) او ۷۰(۲۳:۷۰)، سبا۸ (۳۴:۸)]. خو خدای تعالی ورته ځواب ورکوي:

آیا اند نه کوي چې د هغوی په هم کلام ملګري کې هیڅ ګډوډي او بې سدي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ۀ شته او هغه له څرګند خبرداروونکي پرته نه دی [اعراف۱۸۴(۷:۱۸۴) او سبا۴۶(۳۴:۴۶)] - «أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِهِمْ مِنْ جِنَّةٍ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ».

په «جِنّه» کليمه کې د وهمونو او خيالونو پر بنسټ عقيدې او باورونه هم شامليږي؛ ه شرکينو له همدغو بې بنسټو عقيدو او باورونو سره د خدای او د هاغو تر منځ چې نمانځل يې [له بتانو نېولي تر طاغوتانو او فرعونانو]، يو نسبت ټينګوه او هغوی يې د خدای سيوري، د خدای واسطه، د خدای زوی او ....ګڼل: [صافات۱۵۸(۳۷:۱۵۸)] - «وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ». په لنډه توګه ويلی شو؛ «ناس» د «جنّه» په وړاندې، «انس» د «جن» په وړاندې او «انسان» د «جانّ» په مقابل کې دی.

## د ناس سورة د ټولو [۱ ـ ٦] آيتونو بشپړه تشريح:

مرحوم شريعتي به دا خبره ډېره کوله چې قرآن له خدای سره شروع کېږي او له «ناس» [خلکو] سره ختمېږي؛ له خدای سره پيل کېږي او له خلکو سره بشپړېږي. دا آسماني کتاب، چې د الله له نوم سره پيل کوي، له داسې يو سورة سره چې هم نوم يې او هم وروستۍ کليمه يې «ناس» ده، پای ته رسېږي. په دې سورة کې، د هغه له لنډوالي سره سره، پنځه ځلې د ناس کليمه تکرار شوې ده. دا کليمه په ټول قرآن کې ۲۴۳ ځلې راغلې چې پنځه ځلې يې په همدې لنډ سورة کې راغلې يعنې په دې سورة کې تر ټولو زيات تمرکز پر خلکو دی. او په زړه پورې دا چې په دې ترتيب د قرآن کريم پای د هغه پيل ته بېرته ستنيږي.

قرآن کريم څه ډول پيل شوی دی؟ «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ. الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ. الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ. مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ. ...».

اولوهيت: بسم اللّه؛ ربوبيت: ربّ العالمين؛ مالکيت او ملوکيت: مالک يوم الدين؛ او په دې سورة [ناس] کې څه وايي؟ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ. مَلِكِ النَّاسِ. إِلَهِ النَّاسِ... قرآن د ربوبيت، اولوهيت او

(c) ketabton.com: The Digital Library


ملوکيت لـه مثلث سره پيل کېږي او لـه همدې مثلث سره هم پای تـه رسېږي. اصلي پيغام همدا دی. توحيد همدا دی. خدای تعالی څـه ډول پېژنو؟ آيا يوازې پـه اللّه کـې تـم کېږو؟ يا هغه د جهان ربّ او ارباب هم ګڼو او لـه دې سره مل د هغه ملوکيت تـه هـم غاړه ږدو؟ مقصد يوازې لفظي او ظاهري اعتراف نـه دی، بلکې ددې دريو نومونو معناګانو ته عملي التزام او پر ځان اړين ګڼل دي.

## ولې «ناس»؟

قرآن د خدای تعالی لـه نوم [بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ] سره پيل کېږي او د «نـاس» لـه کليمې سره ختميږي. پر دې ترتيب د هدايت د کتاب په يو لور کې، خدای تعالی او په بل لـور کې يې خلک شتون لـري. نـه يوازې د قرآن وروستۍ کليمه «نـاس» ده، بلکې وروستی سورة يې هم، چې لـه لنډوالي سره يې ۵ ځلې دا کليمه پکې تکرار شوې، «نـاس» ده. کـه د نـاس پر ځای د «هُـم» ضمير کـارول شـوی وای، مـثلاً کـه ويل شـوی وای: «قل اعوذ برب النـاس و ملکهـم و الههـم»، ددې کليمې پـه کارونه کې سپما کېدلـه او جمله ساده کېدلـه خـو هرومرو يـو لامل لري چې د ناس کليمه درې ځلې پکې تکرار شوې ده.

د قرآن پـه پايـاني سـورة کـې د نـاس پـر کليمـې دا ډول تمرکـز او ټينګـار هيښـوونکی دی او پوښـتنه ولاړوي او نـه شي کېـدی پـه سـادګۍ تـرې تېر شي. د نـاس کليمـه ۵ ځلـې پـه دې ډېر لنډ سورة کې ځـای لـري. دا ډول يو نسبت بې ساري او ډېر د پاملرنې وړ او د نظر راکښونکی دی.

«ناس» څه معنا لري؟ انسان تـه، دې پـه دوو پښو روان موجـود تـه مختلف نومونه اطلاق شوي دي؛ يو له هغوی «بشر» دی، «بشر» يعنې د پوټکي مخ، يا پخپله پوټکی. د حيواناتو پوټکی عمدتاً له وړيو او ويښتو سره پوښلی دی خو انسان داسې يو حيوان دی چې پوټکی يا د پوټکي مخ يې ښکاره او صاف

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی. له همدې لامله هغه ته «بشـر» وايـي. پـر دې بنـا د ظـاهري او خـارجي خرګندېدني او په نظر راتلو له کبله موږ په دې نوم نومول شوي يـو. بـل نـوم مو «بريّه» دی. موږ ته «بريّه» هم ويل کېږي: خَيْرُ الْبَرِيَّةِ [بينه۷ (۹۸:۷)]. بريّـه يعني هغه موجود چې لـه عيب او نقص پرته او سـپېڅلی پنځـول شـوی دی. درې نور نومونه هم ورته شته چې يو تر بله ورته والی لري: «انسان»، «نـاس» او «اِنس»؛ او د هغوی په مقابـل کـې: «جـان»، «جنّـة» او «جـنّ» دي. لـومړني درې له دويمو دريو سره په تقابل کې دي او ددې تقابـل لـه ارزونـې کېـدی شي د هر يو پر معنا په بهتره توګه پوه شو.

په قرآن کريم کې، هرمهال چـې د سـړي ځـانګړنې او شخصـيت مطـرح وي، هغـه تـه «انسـان» ويـل کېـږي. لکـه: «خُلِـقَ الْإِنْسَـانُ مِـنْ عَجَـلٍ...» [انبياء۳۷(۲۱:۳۷)] انسان له بيړې پنځول شوی. يا بل ځای فرمايي موږ امانت چې، غرونو د هغې له اوچتولو سر غړاوی وکړ، انسان ته ورکړ «إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَـلَى السَّـمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَـالِ فَـأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَـا وَأَشْـفَقْنَ مِنْهَـا وَحَمَلَهَـا الْإِنْسَانُ...» [احزاب۷۲ (۳۳:۷۲)]. «په حقيقت کې موږ هغه امانـت [= د اختيـار لورونه] آسمانونو او ځمکې او غرونو ته وړاندې کړل، خو [تېولو د وجودي ناتوانی له لامله] د هغه له لېږد څخه ډډه وکړه او تـرې وډار شـول او انسـان [د ودې پـه بهير کې د مخکېنی بشپړتيا له لامله] هغه پر غاړه واخيست ...».

يا چې فرمايي انسان داسې، يا انسان هاغسې دی. يعنـې د ځـانګړنو او صفتونو له حيثه «انسان» دی. خو هر مهال چـې د انسـان اُنـس او عاطفـه يـې جنبه په نظر کې وي، هغه «اِنس» نوموي، چې د مؤانست د معنا متضـمن دی: «...فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا...» [نساء٦(۴:٦)] «هر مهال مو چې په هغوی کـې د ودې احساس وکړ...». نور موجودات يو تر بلـه پـه اُنـس او مؤانسـت کـې نـه، بلکې د توحـش په حالت کې ژوند کوي؛ او يوازې انسان دی چـې ټـولنيز او مدني ژوند لري. قرآن، دې معنا ته په اشاره کې، آدمي ته «اِنس» وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دريم نوم «ناس» دی چې ډېری د سړي د تعقل او تفکر قوې ته پاملرنه لري چې هغه ته وده او ارتقا ورکوي، د نورو موجوداتو پر خلاف چې د هغوی تم او راکد حالت هغوی ته د ودې او کمال ډېر لږ امکان ورکوي. انسان عاقل او متفکر، اندیال موجود دی چې د اند او تفکر په ځواک خپله لار مومي او مخکې ځي. نو، درې واړه کلیمې چې وویل شوې یو تر بله مشابهت او ورته والی لري یوه هم د هغه د شخصیت جنبه ده بله د انسانانو تر منځ اُنس او انساني اړیکه ده، او وروستۍ هم د هغه عقلانیت، اند نو تفکر څرګندوی دی.

نو د «ناس» په سورة کې د آدمي د تفکر او تعقل له اړخ او جنبې سره سروکار لرو. یعنې داسې موجود چې د تفکر او تعقل خاوند دی او اندنه کوي او درک او موندنه کوي او «انسان» داسې یو موجود دی چې کولی شي پوه شي د هغه ربّ او مَلِک او اله یو دی او هغه اللّه دی. پر دې بنا کوم تثلیث چې په قرآن کې دی د مسیحیت له تثلیث سره یې توپیر دادی چې هغوی هر درې واړه بېل ویني، او اسلام هر درې واړه په یوه واحد حقیقت کې ویني. په قرآن کې په سلګونو موردونو کې دې حقیقت ته اشاره شوې ده. مثلاً وایي موږ موسی د فرعون او هامان او قارون پر لور ولېږه. او توجه لرو چې فرعون د پوځ او نظامي قدرت سیمبول دی، قارون د ثروت سیمبول او هامان د فریب سیمبول؛ د مرحوم شریعتي په تعبیر زور او زر او تزویر؛ یا تیغ او طلا او تسبیح؛ یا مَلِک او مَلأ [د اشرافو ډله] او مُلا؛ یا استعمار او استثمار او استحمار. پوهیږو چې په حج کې درې بُتان [ځلي] یا شیطانان دي چې هغوی باید په کاڼو وویشتل شي.

داسې بریښي چې درې زمینې او ډګرونه دي چې انسان هم په هغوی کې وده کوي او هم کېدی شي له رشد او ودې پاتې شي یا سقوط وکړي، که انسان دا درې واړه په نظر کې ونه نیسي، کېدی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اند او عمل له لیده په ژوند کې، ډېرې ټکرې او ډغرې وخوري او ډېر زیانونه به ووینې. یو یې قدرت دی، دویم ثروت او دریم هم علم، چې ښايي په ټولیزه توګه هغوی ته عشق وویل شي.

خو ولې ناس، او نه انسان یا: آدم، بشر، بریه، عبد او ...؟ لکه څنګه چې مو وویل هره یوه له دې ویيونو خپله ځانګړې معنا لري چې د موضوع او د خبرې او سورة د سیاق او سبک په تناسب کارول کېږي او د خدای تعالی پر دې غوره شوي مخلوق له ځانګړي ګوټه لیدنه کېږي. ګواکې له کومې چې د وحشی حیواناتو په مقابل کې د «اُنس» او الفت او ټولنیز ژوند اهل دی، د «انسان» نوم پرې اېښوول شوی دی؛ په اتفاقي توګه ددې کلیمې مشتقونه په قرآن کې د آشنا کېدلو او اړیکو جوړولو په مفهوم کې دي چې همدا «انس» نیول دي. لکه د نور سورة ۲۷ آیة:

«...لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا...»

[نور۲۷(۲۴:۲۷)] «...په غیر له خپلو کورونو کوم کور ته وارد نه شئ مګر دا چې انس واخلئ [ورسره آشنا شئ] او پر اهل يې سلام وکړئ...».

[البته قرآن دا عنوان په عامتره بڼه ددې موجود د جسمي او چلندي – خلقتي – او نوعي ماهیت او فضیلتونو او کمالونو او استعدادونو د ځانګړتیاو له لامله پر هغه ایښی دی] په قرآن کې د انسان کلیمه د خلقت په زمینه کې د «جان» له کلیمې سره منحصراً راغلې ده او د انس کلیمه د محسوسوالي او ملموسوالي په زمینه کې له «جن» سره [۱۴ ځلې] او د «ناس» کلیمه د «جنة» له کلیمې سره [۳ځلې].

له کومې چې د «جن» [چې نامحسوس او له نظرونو پټ دی]، پر خلاف انسان ښکاره او د احساس او ادراک وړ دی، «انس» نومول شوی دی، له ۲۲ ځلو څخه چې د «جن» کلیمه په قرآن کې کارول

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوې ده ۱۴ ځلې يې د «انس» له کليمې سره يو له بل تر څنګه ځای نيولی او د «انس» فعل د احساس او ادراک او ليدلو په معنا دی:

«...امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَعَلِّي آتِيكُمْ مِنْهَا بِقَبَسٍ...» [طه١٠(٢٠:١٠)]

«...دمه شئ! [= لږ تم شئ] ما يو اور احساس کړ [وليد] ، ښايي څه سکروټې ترې راوړم ...»

«...إِذْ قَالَ مُوسَى لِأَهْلِهِ إِنِّي آنَسْتُ نَارًا سَآتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ...» [نمل٧(٢٧:٧)]

«...[در ياد کړ] هغه مهال چې موسی [د بيديا په تياره او سړتيا کې] خپل کهول ته وويل: زه [په رښتيا، نه خيالي] د يو [خوښمن] اور وينم [احساس کوم]، [دلته لږ تم شئ، ځم او] ژر به کوم خبر [د لارې په تاکنه کې] راوړم...»

«...وَسَارَ بِأَهْلِهِ آنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّورِ نَارًا قَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَعَلِّي آتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ...» [قصص٢٩(٢٨:٢٩)] «... او [د خپلواک ژوند د تشکيل لپاره] خپلې کورنۍ ته يې د شپې حرکت ورکړ، [د لارې په منځ کې، د بيديا په تياره او سړتيا کې] د طور [غره] له لور يې، يو [خوښمن] اور احساس کړ؛ خپلې کورنۍ ته يې وويل: لږ تم شئ، زه يو اور احساسوم، ښايي له هغه تاسو ته کوم خبر راوړم.... »

همدا راز لکه څنګه چې مخکې مو ورته نغوته کړې ده؛ له دې لامله چې د بدن پوټکی يې د حيواناتو پر خلاف [چې د هغوی پوټکی د وړيو او ويښتو په منځ کې پټ دي] ښکاره او ځرګند دی، «بشر» نومول شوی دی [بشره = د بدن پوټکی] په قرآن کې هغه مهال چې د انسان جسم او خارجي بڼه تر نظر لاندې وي همدا لفظ کارول کېږي. او يا چون له عيب او نقص څخه بېل او مبرا پنځول شوی او ذاتاً له ناپاکيو او ناولتوبه سپېڅلی او مبرا دی «بريه» يې نومولی دی.

خو په دې اړه چې ولې «ناس» نومول شوی دی، مفسرين او لغتپوهان د هغه د تسميې د وجهې او لغوي ريښې په پيدا کولو کې په زيات اختلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوځار شوي دي. د مجمع البیان مفسر او همدا راز د مجمع البحرین لغتنامې د ناس او انسان دوه کلیمې یو شان ګڼلي دي او اصل یې له «اناس» انګېري چې همزه یې د ډېر استعمال له کبله ساقطه شوې ده. بصریونو هم دا کلیمه د «انسان» په څېر د «اَنَسَ» له ریښې اخېستلې ګڼلې چې ددې موجود هماغه انس او الفت او آشنا کېدل رسوي. خو کوفیونو د ناس کلیمه د «نَسَیَ» له ریښې ګڼلې چې له «نسیان» سره له یوې کورنۍ ده. په دې صورت کې باید د هېرولو او غفلت مفهوم ددې موجود په اړه تر نظر لاندې ونېول شي.

خو د «ناس» ریښه یې معنا او د نوم ایښوولو د لامل او د «انس» او «انسان» سره یې د اختلاف د پیژندلو لپاره مطمئن ترینه، خوندي او ډاډه لار پخپله قرآن او دې کلیمو پورې اړوندو آیتونو کې تدبر دی. له، بل لورې پوهیږو د قرآني کلیمو د پوهیدلو او پېژندلو لپاره یوه له طریقو، د هغوی متضادو او متقابلو یا مترادفو کلیمو ته مراجعه کول دي، مثلاً شکر د کفر په مقابل کې، «بر» د «اثم» پر وړاندې، «تقوی» د «فجور» (یا عدوان) په مقابل کې او ... په همدې طریقه وینو چې د «انس» د کلیمې پر وړاندې په ټوله کې [۱۴ځلې] د «جن» کلیمه کارول شوې ده او د «انسان» د کلیمې په مقابل کې د «جان» کلیمه، او همدا راز د «ناس» د کلیمې په مقابل کې «جنّه».

داسې بریښي چې که د جن، جانّ او جنّه توپیر ومومو، نو کولی شو له هغه د انس او انسان او ناس تر منځ د توپیر د پېژندنې لپاره د کونجي په توګه استفاده وکړو. دادی د پورتنیو درې ګونو کلیمو کارنځۍ د هغوی د متقابلو کلیمو سره په قرآن کې تر څېړنې لاندې نیسو. په زړه پورې لا دا چې هره یوه له دې کلیمو یوه له بلې سره پر تقابل سربېره په ځانګړې بڼه هم کارول شوي دي چې کېدی شي له هغوی څخه د کلیمې د لا دقیقې او جوتې معنا د پېژندلو لپار استفاده وشي.

۱. **جن او انس** ـ د جن د کليمې عمومي او ريښه يي معنا د هغې په ټولو مشتقونو او د کارونې په کارنځايونو کې د هغوی يو ډول پټوالی او مستوروالی دی [لکه: جنين، جنت، مجنون، جنّه او...] دا کليمه نه يوازې په اسمي حالت کې، بلکې په فعلي حالت کې هم د همدې مفهوم لرونکې ده. لکه ددې آية په څېر: «...فلما جنّ عليه الليل...» [... هغه مهال چې شپې پر هغې پټ کړل ...]. پر دې بنا د شپې تياره لکه د پر دې په څېر ده چې څيزونه مستور او مخفي [جن] کوي.

په مقابل جهت کې، د «انس» کليمه هغه مهال چې د فعل په بڼه کارول کېږي، د ليدلو او اورېدلو او احساس او ادراک کولو معنا ورکوي چې په بشپړه توګه د پټوالي، مستور او مخفي توب مخالف دی.لکه: «... إِنِّي آنَسْتُ نَارًا ...» [طه۱۰(۲۰:۱۰)] ، [نمل۷(۲۷:۷)]، [قصص۲۹(۲۸:۲۹)]
[... زه يو اور وينم او د هغه احساس کوم...] او يا: «... فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ...»[نساء٦(۴:٦)]. [که په هغوی (صغيرو يتيمانو) کې مو رشد [يا وده] احساس کړه، يعنې د هغوی بلوغ مو د هغوی له خبرو ومونده او د هغوی په حرکتونو کې مو ننداره کړه، د هغوی ټول مالونه ورته بېرته مسترد او ورسته کړئ ...]. پر دې ترتيب کولی شو ووايي؛ بني آدم د هغه د ښکاره او څرګندوالي له لامله [د جن پر خلاف] او يا د هغه د پنځګونو حواسو له لامله چې د هغه د احساس او ادراک وسيلې دي، «انس» نومولی.

۲. **جان او انسان** ـ د «جان» کليمه په دوو آيتونو کې د «انسان» په مقابل کې ځای لري . « خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ وَ خَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ» [رحمن۱۴(۵۵:۱۴) او ۱۵] انسان يې [په کوزه ګرۍ او خاورين لوښو جوړونه کې کارېدونکي] کودړو په څېر له وچې ختې څخه وپنځوه، او جن يې د اور له ګډولې [او ترکيبه] [ = خالصه انرژي – بې لوګي اور].

(c) ketabton.com: The Digital Library


«وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَارِ السَّمُومِ» [حجر٢٦(١٥:٢٦) او ٢٧]. او په جوته توګه موږ انسان له بوى ناکې تورې خټې [= لجن] وپنځوه. او جن [= ناپېژندل شوې انرژي/ ابليس] مو له مخکې [= ستاسو له پنځونې مخکې] له بې لوګې اوره [= خالصې انرژى] وپنځوه.

او په دريو آيتونو کې د «انس» په مقابل کې چې هر يو خپل خاص مفهوم لري. «لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ » [رحمن٥٦(٥٥:٥٦) او٧۴] په هاغو [باغونو] کې د حياناکو سترګو والا [= پاک لمنې] حضور لري چې مخکې له هغې د هيڅ انس او جن [= آشنا او ناپېژاندي] لاس هغوى ته نه دى رسېدلى؛ ـ «فَيَوْمَئِذٍ لَا يُسْأَلُ عَنْ ذَنْبِهِ إِنْسٌ وَ لَا جَانٌّ» [رحمن٣٩(٥٥:٣٩)] نو په هاغې ورځ کې له هيڅ يو انس او جن څخه د هغې د ګناه پوښتنه نه کېږي.

د «انس» معنا مو مخکې وپېژنده، خو د «انسان» معنا له نورو آيتونو څخه چې د «جان» کليمه په مستقله توګه کارول شوې ده، کولى شو وپېژنو. پوهېږو د «جان» کليمه په دوو آيتونو کې پر يو ډول وحشتناک، بورنورې او سونځ حيوان [«مار»] اطلاق شوى دى «... فَلَمَّا رَآهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَانٌّ وَلَّى مُدْبِرًا وَ لَمْ يُعَقِّبْ ...» [ نمل١٠(٢٧:١٠) او قصص٣١(٢٨:٣١)]. «...نو همدا چې موسى وليدل [کوټنې] يې د مار په څېر خوځېږي، مخ پر شا په تېښته شو او شاته يې هم و نه کتل....»

نو د «جان» د کليمې په مفهوم کې يو ډول نا آشنايي او ډار او وحشت او تېښته او فرار شتون لري، په داسې حال کې چې د انسان کليمه [د آنَسَ له ريښې] د انس او الفت او پيوند څرګندونه او تداعي کوي.

٣. **جنّه او ناس** ـ دا دوه کليمې د «ناس» سورة پر آخرين آية [مِن الجنّة و النّاس] سربېره، دوه ځلې نور هم په قرآن کې په متقابله بڼه کارول شوې دي: «...لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ».[هود١١٩(١١:١١٩)]،

(c) ketabton.com: The Digital Library


[سجده۱۳(۳۲:۱۳)] «... ددې لپاره چې دوزخ به د جن او انس [=ستاسو له ناپېژاندو او آشنایانو] ټولو [بې لارو شوو] ډک کړم.»

خو د «جنّه» کلیمه سربېره پر هاغه چې له لیده پټ موجود تري پوهېدل کېږي، په ۵ موردونو کې هم د لېونتوب او پرېشانۍ او جنون معنا ورکوي. او دا هاغه تور دی چې کافرانو پر رسول اکرم(ص) لګوه:

«أَمْ يَقُولُونَ بِهِ جِنَّةٌ...» [مؤمنون۷۰(۲۳:۷۰)] «یا وايي هغه جن وهلی [=لېونی] شوی دی؟ ...» ، «...أَمْ بِهِ جِنَّةٌ...» [سبأ۸(۳۴:۸)]«... یا به هم لیونتوب وهلی وي!؟...»، «... مَا بِصَاحِبِهِمْ مِنْ جِنَّةٍ...» [اعراف۱۸۴(۷:۱۸۴)] «...دهغوی په هم ناستي کې د لېونتوب هیڅ اغېز شتون نلري...»، «...مَابِصَاحِبِكُمْ مِنْ جِنَّةٍ...» [سبأ۴٦(۳۴:۴٦)] «... ستاسو همدم ملګری جن وهلی [=باګساری] نه دی...»، «إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ...» [مؤمنون۲۵(۲۳:۲۵)] «هغه له یو جن وهلي سړي پرته نور څه نه دی...».

په دې ترتیب کولی شو ووایو چې د «جِنّة» په کلیمه کې یو ډول له حقیقتونو څخه د پټوالي، پرېشانۍ، او باګسارۍ مفهوم نغښتی دی. د لېونتوب او پرېشانۍ د مفهوم مقابله نقطه کې، هوښیاري او عقل او ادراک او اندنه او تدبیر دی. پر دې بنا له «ناس» سره د «جِنّة» تقابل ته له پاملرنې سره پوهېږو چې بني آدم ته له دې لامله «ناس» وايي چې د تفکر او تعقل استعداد لري.

لکه څنګه چې ډېریو له لغت پوهانو ویلي د ناس کلیمه که د (نَوَسَ) له رېښې اخېستل شوي وي، [په المعجم المفهرس او د قرآن قاموس کې یې هم په همدې ردیف کې ځای نېولی]، او ددې لغت اصلي مفهوم ، نوسان او تردد او هڅه او تلاش، تحرک او خوځښت دی، د «ناس» سره د «جن» تقابل ته له پاملرنې سره کېدی شي دا ډول نتیجه واخېستل شي [واللّه اعلم] چې آدمي داسې یو موجود دی چې د اند او تفکر او تعقل د ځواک او هاغه استعداد چې د عالم د پالونکي ښښتن د «اسماء» د شناخت او پېژندلو لپاره د هغه په بنسټ او خته کې یې امانت ایښی، هڅه او تلاش او منډې تررېي ښېرنه او پلټنه او

(c) ketabton.com: The Digital Library


پېژندنه پيل کوي او پل په پل، ګام په ګام د اسماء د آګاهۍ او پېژندنې او پالونکي ښتن ته د نژدېوالي پر لور اوچتو علمي پوړونو ته رسېږي.

يو ځل بيا دا نکته تر پاملرنې لاندې نيسو چې قرآن د خدای تعالی له نوم (بسم اللّه...) سره پيل کېږي او د ناس له کليمې سره پای ته رسېږي. ددې کتاب يو لور ته د ټولو ارزښتونو او اسمائو سرچينه برېښي او د هغه بل لور ته د يو موجود هاغه تنده او استعداد دی چې د تفکر او اندنې او تعقل او هڅې، تدبر او تدبير پر ځواک بايد خپل ځان ژوندبښونکي سرچينې ته ورسوي. ددغې لارې د وهلو او د هغې له راز راز خطرونو څخه د بچ کېدو او د ځان د سلامتۍ لپاره، خدای تعالی توصيه کړې چې له ډول ډول شرونو څخه، د هغه د «ربوبيت»، «مالکيت» او «الوهيت» وُرشو او دامان ته پناه يوسو. دادی موږ يو او د هغه پر لور پر لارې يون کوو.

**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ، مَلِكِ النَّاسِ، إِلَهِ النَّاسِ، مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ، الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ، مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ.**

بني آدم د يو عمر هڅو او تلاش او تحرک او بې قرارۍ او اضطراب په پايله کې، بالاخره له خپل تفکر او اندنې او تعقل او تدبير سره په کوم يو پوړ او پناه ځای کې کولی شي سوکالۍ، آرام او قرار ته ورسېږي؟ فرعون چې خپل ځان يې «رب الاعلی» انګېره آيا هغه دا آرامش، سوکالي او هوساينه ساتلی شوه يا «رب الناس»؟ سلطانان او پادشاهان او جباران چې خپل ځانونه د خلکو د مال او ځان مالکان ګڼي، آيا هغوی پناه ورکولی شي يا «ملک الناس»؟ آيا جوړشوي خدايان او بشري بُتان او «الهه» او اصنام، پيران او قبرونه، بني آدم واقعي او رښتيني مينې او عشق او د زړه سُود، تسل او ډاډ ته رسولی شي يا «الهِ الناس»؟

بني آدم له خپله اصله له لېري والي سره په دې نا آشنا او له تېري او داړنې څخه په ډکې تمدن والا دنيا کې، په کوم ځای کې کولی شي انس او

(c) ketabton.com: The Digital Library


الفت واخلي او له چا سره د زړه غم او د بېلتون درد ووايي؟ له احبار او رهبان او د دین او مذهب روحانیونو سره چې د خلکو د «رب» په مقام کې کېني یا «رب الناس»؟ «اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ...» [توبه ۳۱(۹:۳۱)] «هغوی خپل دیني عالمان او راهبان د الله پر ځای [لکه] د [داسې] اربابانو په توګه [چې د مطلقه ولایت لرونکي دي] ونیول....».

بني آدم هېروونکی او د «نسیان» اهل دی او «ناس» نومول شوی چې ناشکره او غافل طبیعت یې څرګند شي. خو د خدای تعالی دا غوره مخلوق کوم څیز هیروي؟ آیا خوراک او څښاک هیروي [چې معمولاً نه هیرېږي] یا ورځ او ساعت او میاشتې دومره اهمیت درلودلی دی چې د ځانګړي خصلت په عنوان دې موجود پورې اړه ونیسي؟ یا د عادي نسیان څخه بر او اوچت کوم نسیان د خدای تعالی ددې مغرور مخلوق لمن نیولې ده؟

حقیقت دادی چې غافل او ناشکره بنی آدم مهمترین څیز چې تل باید د هغه یادونه وکړي او ذکر یې کړي، هیروي او له یاده یې وباسي، سره له دې چې خدای تعالی د خالق او پنځوونکي په توګه پېژني، خو د هغه په هماغه لومړی پنځونه کې خبره لنډوي او خلاصه کوي او د خپل ژوند پر شېبو د هاغه لایزال تدبیر او ربوبیت هیروي. سره ددې چې هغه د آسمانونو او ځمکې مالک ګڼي، خو سر د پادشاهانو او ملوکانو او د قدرت او ځواک او ثروت د اربابانو پر درشل ټیټوي او هغوی د ځان او مال د مالکانو په توګه پېژني .... او بالاخره سره له دې چې هغه په خبرو او ادعاګانو کې د ټول عالم او کایناتو خدای ګڼي، خو عملا نور خدایګان او خدایګوټي نمانځي او د هغوی په دروغجنو درشلونو کې د هغوی حمد او ثنا وایي او په غوره مالې یې ستاینه کوي. په دې ترتیب هاغه څه چې هیروي او د «ناس» عنوان ورته اړین کوي، همدا د خپل خالق ربوبیت، ملوکیت او الوهیت یې دی. داسې هېرونه او نسیان چې د پالونکي څښتن له یاده په خالي سینو کې د وسوسو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


د جني او انسي خنّاسانو د حضور ځمکه او ډګر دی. نو همدا لامل دی چې ددې مزمنې او وژونکي بيمارۍ د درمل لپاره بايد خپل لومړني فطرت ته ورستون شي او هاغه پالونکي ښتن ته له پناه وړلو سره چې د خلکو رب، مِلک او اِله دی، خپل ځان د هغه د لطف او کرم په ورشو کې وساتي.

## دنني شرونه

کوم شر چې د انسان له دننه راولاړېږي، له هاغې اغېزمننې او انفعاله اوچتيږي چې د جن او انس خنّاسانو د وسوسو په مقابل کې يې له ځانه ښکاره کوي. لکه څنګه چې راز راز ميکروبونه زموږ په چاپيريال فضا کې خپاره دي، خو يوازې هاغه مهال ناروغېږو چې د ارواييز ستړيا، کمخوبي، بد هضمي او ددې په څېر د نورو له لامله په ضعف او د دفاعي ځواک په لړوالي اخته شوي اوسو، شيطاني وسوسې او تحريکونه او پاروني او تلقينونه د ټولو لپاره، حتا د خدای تعالی د غوره شوو پيغمبرانو لپاره شتون درلودلی، خو هغوی د ايمان او ارادې په ځواک شيطان ته ډګر نه ورکاوه.

«وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّا إِذَا تَمَنَّى أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ فَيَنْسَخُ اللَّهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ...» [حج۵۲(۲۲:۵۲)] او موږ تر تا مخکې هيڅ استازی او نبي داسې نه دی لېږلی، مګر دا چې هر مهال يې د کومې هيلې او ارمان اراده کوله [چې خلک د هدايت په لارليک کې يو پل مخکې بوزي]، شيطان د هغه په ارمان [= د رسالت موخې] کې [د شک او ترديد] القاء اچوله.

داسې ښکاري چې د آدمي په روح کې د شرک او کفر او نفاق د نفوذ او ودې لپاره مساعده او مناسبه ځمکه او ډګر، هماغه انحراف او کوږوالی وي چې ددې سورة په پيل کې د خدای تعالی د ربوبيت، ملوکيت او الوهيت ته د توضيح په ترڅ کې ورته اشاره شوې ده. په داسې ډول چې د بني آدم د سلامتۍ يا روحي بيمارۍ ميزان، سره له دې چې پر «الله» او د هغه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library


خالقيت هم معتقد وي، کېدی شي د هماغو دريو بنسټونو: رب، ملک او اله په نسبت د هغوی د انګېرنې او تعبير يوه تابع وګڼل شي. قرآن په ډېره ښه توګه څرګندوي چې څه ډول انسانان د الله پر ځای نور شريکان خپل «رب»، «ملک» او «اله» نيسي او د هغوی په دُرشل کې د تسليم، تعبد او بنده ګۍ سر ټيټوي. چې ښه ساري يې د فرعون آل او پيروان دي.چې د تاريخ د هاغه ستر مستکبر ادعا يې ومنله او باور يې کړه او د هغه تعبد او بنده ګي يې وکړه:

د «ربوبيت» په اړه: «فَحَشَرَ فَنَادَى. فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الأَعْلَى [نازعات۲۳ (۷۹:۲۳) او ۲۴] «فرعون خلک راټول کړل او آواز يې وکړ چې زه ستاسو ستر رب يم».

د «ملوکيت» په اړه: «وَنَادَى فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَذِهِ الأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي ....» [زخرف۵۱(۴۳:۵۱)] «او [له بل لوري] فرعون د خپل قوم په منځ کې [له فريبګرو تبليغاتو سره] چيغه کړه چې: ای زما قومه! آيا د مصر واکمني [=مالکيت او سلطنت] او دا نهرونه [له نيله رابيلې شوې څانګې] چې زما تر اختيار لاندې بهيږي، زما نه دي؟...»

د «الوهيت» په اړه: «وَ قَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلأُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرِي...» [قصص۳۸ (۲۸:۳۸)] «فرعون وويل ای د سروالو ډلې، زه له خپل ځان پرته تاسو لپاره کوم خدای نه پېژنم...».

«قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ» [شعراء۲۹(۲٦:۲۹)] «ويې ويل که غير له ما کوم بل خدای ونيسې هرومرو به تا له زندانيانو کړم».

کېدی شي پورتني آيتونه ذهن ته داسې يو تصور القاء کړي چې فرعون د خدايي او خالقيت ادعا کوله، په داسې حال چې په هيڅ ډول داسې نه ده او مقصد يې د خلکو له «رب» يا «اله» څخه په پورتنيو آيتونو کې، هماغه څيز دی چې ددې کليمو له لغوي معنا څخه راوځي، يعنې زه ستاسو سرور او د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اختيار خاوند او ارباب او ستاسو لوی يم او بايد زما په نسبت د ميني، زړه بايلنې او د زړه راضي والي حالت ولرئ. اصلاً پر فرعون د درباريانو نيوکه په دې کې وه چې ولې دې موسی او د هغه قوم آزاد پرېښی چې په هيواد کې فساد وکړي او تا او ستا خدای ناليدلي ونيسي. «وَقَالَ الْمَلأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَى وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ...» [اعراف۱۲۷(۷:۱۲۷)] «او د فرعون د قوم سروالو وويل: آيا موسی او قوم يې [د هغوی غورځنګ ته له پاملرنې پرته] پرېږدې چې په دې هيواد کې فساد [=دحاکم نظم پر خلاف؛ عمل] وکړي او [موسی] تا او خدايان دې پرېږدي؟ ...»

له دې خبرې معلومېږي چې فرعون پخپله د يوه الهه نمانځونکی وو او خلکو فرعون، «اله» د خالق په معنا نه پېژاند او يوازې د هغه د حکمونو او امرونو پليونان ول، د هغه د فکري خط په نسبت يې د تعبد او تسليم حالت درلود او د هغه «امامت» او ديني او سياسي ولايت، پالنې او روزنې ته يې غاړه ايښې وه. د «اله» معنا همدا ده چې انسان د يو څيز په نسبت عاشق او زړه بايلودی وي.

«وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يُنْصَرُونَ» [قصص۴۱(۲۸:۴۱)] او هغوی [فرعونيان] مو سرلاري وګرځول چې [خپل پليونان يې د نېمګرغی پر ځای] د اور لور ته بلل او د قيامت پر ورځ به مرسته ورسره ونشي. لکه څنګه چې قرآن د اشخاصو لپاره له خپل ځانه راضي والی او د نفس له هوا څخه پليوني «د نفس نمانځنه» او اله ګرځونه نومولې ده: «أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَى عِلْمٍ ...» [جاثيه۲۳(۴۵:۲۳)] [له سرليک سره د عمل اړيکي ته له پاملرنې سره] آيا هغوی ته دې پاملرنه کړې چې د خپل نفس هوا يې خپل معبود نيولی دی او خدای هم هغه، له علم سره [سره چې لري]، لارورکي ته سپارلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضـرت یعقـوب(ع) د مرګ پر مهال لـه خپلو زامنو پوښتنه کـوي چې لـه ما وروسته به د څـه څیز عبادت کـوئ؟ [ما تعبـدون من بعدی]، لـه هاغـه شـناخت او انتظاره چـې د داسـې پیغمبر لـه کهولـه شـونی دی ولـرل شي، داسـې نـه بریښـي چـې د هاغـه حضـرت اندېښنه دې د عـام شـوو بتـانو د عبـادت پـه نسبت وي، بلکـې ډېری هماغـه د عبادت حقیقـي معنـا یـې تـر نظـر لانـدې ده چـې غالباً پـر الله لـه اعتقـاد سره مـل، بېلـو شریکـانو پـورې اړه نیسـي. او ددوی سـپېڅلو روزل شـوو زامنـو ځـواب هـم لـه دې پرتـه نـه وو چـې: «...سـتا خـدای او سـتا د پلرونـو، ابـراهیم او اسماعیل او اسحاق، واحد خدای نمانځو او هغه ته تسلیم یو:

«...نَعْبُـدُ إِلَهَـكَ وَإِلَــهَ آبَائِـكَ إِبْـرَاهِيمَ وَإِسْـمَاعِيلَ وَإِسْـحَاقَ إِلَهًـا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ» [بقره۱۳۳(۲:۱۳۳)]

خــو ډېــری د خــدای بنــدګان، لــه «اللــه» پرتــه نــور کســان الهــه نیســي. نــه دا چــې پــه رښــتیا پــر هغــوې عاشــقان او زړه بــایلودي وي، بلکــې د همــدې لپــاره چــې تکیــه ځــای او ملاتــړ او د یــو عــزت لاســوند یــې مونــدلی وي: «وَاتَّخَــذُوا مِــنْ دُونِ اللَّــهِ آلِهَــةً لِيَكُونُــوا لَهُــمْ عِــزًّا. كَــلَّا سَــيَكْفُرُونَ بِعِبَــادَتِهِمْ وَيَكُونُــونَ عَلَــيْهِمْ ضِــدًّا» [مــریم۸۱(۱۹:۸۱) او ۸۲]. او [منکرانــو] د اللــه پــر ځــای، معبــودان ونیــول چــې د عــزت لامــل یــې وي [= د روزګــار پــه پېښــو کــې یــې ملاتــړ وي]. هېڅکلــه [داســې نــه ده]! ډېــر ژر بــه [پـه قیامـت کـې د هــاغو معبودانــو] د نمــانځنې [لــه اغېزمنــوالي] هغــوی منکــر شي او ددوی پر ضدّ به شي.

دادی ددې لپـاره چـې پـه دریـو موضـوعګانو: ربوبیـت، ملوکیـت او الوهیت کـې پـه بهتره توګـه د انسان د انحـراف پر ډوګرونو پوه شـو، د قرآن هـدایت تـه زړه سپارو او سربېره پـر هاغه څـه چـې د فرعون پـه اړه ویل شوي، نور آیتونه هم تر پاملرنې لاندې نیسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


## الف : ربوبيت

هاغه څه چې فرعون انکار ترې کاوه، د خدای شتون نه بلکې، د هغه ربوبيت او تدبير د خلکو د اختيار د خاوند او سرور په عنوان وو له همدې لامله يې هم له موسی او هارون (عليهما السلام) څخه پوښتنه کوله: «ستاسو رب څوک دی؟» «قال فمن ربکما يا موسی» [طه۴۹(۲۰:۴۹)] او اصلاً د عالميانو پالونکی ښتن څه څيز دی؟ «و قال فرعون و ما رب العالمين» او د موسی(ع) ځواب هم عمدتاً د هماغه خدای د ربوبيت نقش وو چې هغه يې د خالق او پنځګر په توګه پېژانده.

د اسلام پيغمبر هم د هاغو مشرکينو په مقابل کې چې پر الله له اعتقاد سره، د هغه له ربوبيته منکرېدل، فرمايي: « قُلْ أَغَيْرَ اللَّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ...» [انعام۱٦۴(٦:۱٦۴)]. «ووايه: آيا له «الله» پرته بل «رب» [= خپل خاوند، سرور او ارباب] اختيار کړم، حال دا چې هغه د ټولو څيزونو «ربّ» [=داختيار خاوند او چلوونکی] دی....»

انسانان سره له دې چې په دنيا کې ډول ډول اربابانو ته پناهنده کېږي، خو د قيامت په ورځ به له هغوی سره جګړه او دښمني کوي، چې هغوی يې په ربوبيت کې له خدای تعالی سره برابر ګرځولي ول:

«قَالُوا وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ. تَاللَّهِ إِنْ كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ. إِذْ نُسَوِّيكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ. وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ.» [شعراء۹٦(۲٦:۹٦) تر ۹۹].

هلته، په داسې حال کې چې يو بل مقصّر ګڼي، وايي: په خدای سوګند چې په څرګندې بېلارې کې ولو. هغه مهال چې تاسو [د زر او زور او تزوير اربابان] مو [عملاً] له رب العالمين سره برابر ګڼلئ، موږ له مجرمانو [= له خدای او خلکو بېل شوي/ باطلو اربابانو] پرته بل چا بېلارې نه کړو [= زموږ د بدمرغۍ لامل هغوی ول، نه موږ پخپله].

(c) ketabton.com: The Digital Library


هاغه موردونه چې بني آدم د «رب» په نېولو کې په لارورکۍ اخته کېږي په لاندې توګه يې په لنډ ډول ذکر کوو:

**الف: ۱- پادشاهان او سلطانان – بنايي [په انحرافي حالت کې]**

د «رب» د اطلاق تر ټولو ډېر موردونه پادشاهانو او امراء او ملوک ته اړوند وي چې تر واکمنۍ او حکومت لاندې خلکو او پرګنو، د اختيار خاوندان، سروران او اربابان ګڼل کېدل. د يوسف سورة له دې ليده ډېرې زياتې نغوتې لري:

«يَـا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ»

[يوسف۳۹ (۱۲:۳۹)] . اې دوه زنداني ملګرو! آيا خپاره واره [او ګڼ شمېر دنيائي پالونکي او] اربابان غوره دي يا [په ټوله هستی برلاسی] يو زورور [اوځواکمن] "الله" ؟!

«يَـا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّا أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُ خَمْرًا ...»

[يوسف۴۱(۱۲:۴۱)]. «[دادی] اې زما د زندان دوو ملګرو! يو به له تاسي [آزاد او] او د خپل څښتن [= فرعون] د شرابو ساقي به شي....».

«وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُ نَاجٍ مِنْهُمَا اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ فَأَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ...» [يوسف۴۲(۱۲:۴۲)]. «يوسف له هغو دوو يوه ته، چې د خوشې کېدو ګومان پرې وو، وويل: خپل خاوند [= فرعون] ته دې زما [د بې دليله زنداني توب] يادونه وکړه. خو[د دربار د بزم او شراب خوړلو مجلسونو کې د بوختيا له امله] شيطان دغه يادول ترې هېر کړل....».

«وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ...»

[يوسف۵۰(۱۲:۵۰)]. «او پاچا [د خوب د تأويل له اورېدلو وروسته] وويل : ما ته يې راولئ ! خو کوم مهال چې[ديوسف خوا ته د پاچا] استازی ورغی، [يوسف ورته] وويل: خپل ارباب ته دې ورستون شه....».

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲ – احبـار او رهبـان – هيروونکـي بشـر نـه يـوازې ځـواکمن واکمنـان، بلکـې د ديـن او مـذهب متوليـان او چارسـمبالي يـې هـم د خـدای پـر ځـای ارباب نيـولي دي: «قُـلْ يَـا أَهْـلَ الْكِتَـابِ ... وَلَا يَتَّخِـذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِـنْ دُونِ اللَّهِ...» [آل عمران٦٤(٣:٦٤)].

ووايـه: ای کتـابوالو ... او ځينـې لـه مـوږ [آدميـانو] ځينـې نـور د خدای پر ځای ارباب [= د اختيار خاوند] و نه نيسو....».

«اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ ...» [توبه٣١(٩:٣١)]. «هغـوی خپل ديني عالمان او راهبان د الله پر ځای [لکه] د [داسې] اربابانو پـه توګـه [چې د مطلقه ولايت لرونکي دي] ونيول....».

۳ – پرښتې او پيغمبران –

«وَلَا يَـأْمُرَكُمْ أَنْ تَتَّخِـذُوا الْمَلَائِكَـةَ وَالنَّبِيِّـينَ أَرْبَابًـا...» [آل عمـران٨٠(٣:٨٠)]. «خـدای تاسـو تـه [هيڅکلـه] د پرښـتو او پيغمبرانـو د ارباب نيولو فرمان نه درکوي....»

## ب ـ ملوکيت [پادشاهي]

همدا راز د يوسف په سورة کې لکه څنګه چې د «رب» نوم په ډېرو ځايونو کې د مصر پاچا ته، د هاغې اوبجې او هيواد د اختيار د څښتن او ستر په عنوان دلالت کوي. نور نومونه لکه سيد، عزيز او مَلِک چې خدای تعالی ته ځانګړي دي هم هغه ته يې اړيکه نيولی ده، همدا راز په ٥٥ آية کې د حفيظ او عليم نومونه د حضرت يوسف په اړه او په ٩٣ او ٩٦ د «بصير» نوم د حضرت يعقوب په اړه کارول شوی دی.

په داسې ډول چې له ١١ موردونو څخه چې د ملک لفظ په قرآن کې کارول شوی ٥ مورده يې په همدې [د يوسف سورة] کې ځای لري. او حتا په يو آيت کې د مَلِک او ربّ هر دواړه کليمې يو ځای په همدې معنا کارول شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي: «وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ...» [يوسف۵۰(۱۲:۵۰)]. «او پاچا [د خوب د تأويل له اوريدلو وروسته] ووېل : ما ته يې راولئ ! خو کوم مهال چې[ديوسف لور ته د پاچا] استازی ورغی، [يوسف ورته] ووېل: خپل ارباب ته دې ورستون شه....».

په قرآن کريم کې د مَلِک عنوان هم د خدای تعالی لپاره کارول شوی هم د انسانانو لپاره، له دې توپير سره چې د خدای تعالی په اړه له يوه داسې صفت لکه «ملک الحق» يا «ملک القدوس» سره مل شوی دی ددې لپاره چې هغه يې له دنيايي ملوک له ناپاکۍ او بطلان څخه بېل، خپلواک، سپېڅلی، بري او بې عيب معرفي کړی وي.

حقيقت دادی چې هيڅ کوم ملوکيت د الله له ملوکيت پرته شتون نلري او آسمانونه او ځمکه د هغه دي. خو د حکيمانه مشيت او ارادې پر بنا د انسانانو د ابتلا او ازمېښت له کبله داسې امکان موقتاً ځېنو کسانو ته ورکوي يا له هغوی يې اخلي:

«قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ...» [آل عمران۲٦(۳:۲٦)]. «ووايه: ای خدايا، ای د هستۍ واکمنه! مُلک [= واکمني او حکومت] چې هر چاته وغواړې [= د مقدر کړو نظامونو پر بنسټ] ورکوې او له هر چا چې وغواړې بېرته اخلې ....».

کېدی شي ځېنو انبيائو لکه داؤد او سليمان ته داسې يو ملک عنايت کړي، يا ستمګرو جبارانو ته چې پر دنياپالو بېلارو او لارورکو خلکو واکمني کوي.

[د حضرت يوسف په اړه چې وايي؛] «رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ...» [يوسف۱۰۱(۱۲:۱۰۱)]. «[پالونکيه] ربه ! تا ماته له واکمنۍ [يوه برخه] راکړه...» ـ [د حضرت داؤد په اړه:] « قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي....»[ص۳۵(۳۸:۳۵)]. «ويې ويل : پالونکيه څښتنه! ما وبښه او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library


واکمني ما تـه بخشش کـړه چـې لـه ما وروسـته يـې هيڅـوک وړ نـه وي...» «وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَـاهُ الْحِكْمَـةَ وَفَصْـلَ الْخِطَـابِ» [ص۲۰(۳۸:۲۰)]. او د هغه واکمنۍ ته مو هم ټېکاو [= د ځواک دوام] ورکړ او هغه ته مو حکمت او [دخلکو په اختلاف کې] د نباو په اړه مو د غوڅو پرېکړو هنر ورکړ. ـ

[د بنـي اسرائيـل پـه اړه] «... إِذْ جَعَـلَ فِـيكُمْ أَنْبِيَـاءَ وَجَعَلَكُـمْ مُلُوكًـا ...» [مائده۲۰(۵:۲۰)]. «...چې ستاسو پـه منځ کـې يـې [ستاسـو د لارښووني لپاره] پيغمبران وګومارل او تاسو يې [د اسارت او ذلت لـه دوران وروسـته، د خپـل هيـواد او سرليک حاکمان او] واکمنان وګومارلئ...» ـ

[د آل ابـراهيم پـه اړه] «...فَقَـدْ آتَيْنَـا آلَ إِبْـرَاهِيمَ الْكِتَـابَ وَالْحِكْمَـةَ وَآتَيْنَـاهُمْ مُلْكًـا عَظِـيمًا» [نسـاء۵۴(۴:۵۴)]. پـه تحقيـق مـوږ د ابـراهيم آل [= هـر دواړو د اسـماعيل او اسـحاق نسـل] تـه کتـاب او حکمـت او [همـدا راز] ستره واکمني ورکړه [او د اسلام پيغمبر هم له آل ابراهيم څخه دی].

## ج ـ الوهيت:

له «اله» څخه مقصد هاغه څيز دی چې انسان د هغه پر جلال او جمال عاشق شي، مين شي او د هغه د عظمت او ستروالي، بـرم او عـزم پـه نسبت د زړه ورکوني او ځان بايلنې احساس کـوي. لکـه څنګـه چـې ډېرى انسانان د ربوبيت او ملوکيت په ډګر او زمينه کې په «نسيان» [او هيرونې] اختـه کېـږي او د دنيوي اربابـانو او ملکـانو پـه کنـدو او ښـويندځايونو کـې غـورځېږي، د الوهيت په زمينه او اړوند کې هم لکـه د قـدرت او ثـروت د اربابـانو د بـرم او جلال او جبروت په مقابل کې خپل ځان بايلي. سره لـه دې چـې لـه خدايـه انکار نکوي، خو عملاً بل «اله» ته بنده ګي کوي.

کېدی شي دا «اله» فرعون وي يا پرښته او پيغمبران او يـا د نفس هـوا «وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَهٌ مِنْ دُونِـهِ...» [انبيـاء۲۹(۲۱:۲۹)]. «او [کـه] څـوک لـه هغوی ووايي [= ادعا وکړي] زه [هم] غير له خدايه يو معبود يم....».

(c) ketabton.com: The Digital Library


«لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ وَمَا مِنْ إِلَهٍ إِلَّا إِلَهٌ وَاحِدٌ...» [مائده۷۳(۵:۷۳)] بې له شکه هاغو کسانو [هم] چې یې وویل: اللّه له درې ګونیتوب څخه دریم دی، کفر کړی. او له یو خدای پرته هیڅ معبود نشته، «أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ ...» [فرقان۴۳(۲۵:۴۳)] آیا هاغو کسانو ته دې، چې د خپل نفس هوا یې خپل خدای نېولی [= چلن یې د ځان پالنې او د نفس له لېوالتیا د پلیونې پر بنسټ دی] پاملرنه کړې؟

په هر حال کې توپیر نکوي، که قرار پر دې وي چې «اللّه» یوازې یوه مقدسه کلیمه او لفظ وي او الوهیت عملاً او پخپله واقعي معنا او مفهوم باطلو اربابانو ته اړیکه ونیسي، نشي کېدی د شرک په ډولونو کې کوم توپیر قائل شو بلکې د هغې ټول ډولونه، که څه هم لکه تثلیث ته د قائلینو په څېر د بنه نیت له مخې وي، باطله او ورکه لار ده.

او په دې توګه د توحیدي امت آخرینو پلیونانو او پیروانو که غوښتي وي، د الهي هدایت د کتاب له ختمولو وروسته، له دا راز کندو او ښویندځایونو څخه خوندي او مصئون وي، باید د «رب الناس»، «ملک الناس»، او «اله الناس» دُرشل ته پناه وړونکي شي.

نو د پورتنیو تشریحاتو د لنډیز په توګه ویلی شو چې؛ د قدرت له نظره کېدی شي انسان، له خدای پرته، نورو قدرتونو ته هم تړاو ولري او د هغوی پر وړاندې د تعظیم سر ټیټ کړي. دا شرک دی او له خدایه لیرې کېدل. همدا راز د ثروت په اړخ کې هم کېدی شي انسان خپل رزق او روزي او د ژوند تېروني وسیلې او توکي د بل چا یا د نورو کسانو په لاس کې ووینې. نه دا چې خدای نه مني، او له خدایه انکار وکړي، نه، خو د امید سترګې د بل کس یا نورو کسانو د ورکړې لاس ته وګنډي؛ د ژوند او رزق په اړه هم هغه یا هغوی ته سترګې ولري، او لاس یې ورته نېولی وي. او دا د انحراف او کږېدنې بله پایه او کږلېچ دی. خو له قلبي جنبې او د هغه له اړیکو هم، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


عشق او فرهنگ او هنر او ددې په څېر خيزونه رانغاړي، له دې اړخه هم کېدی شي د انسان قلبي اړيکه د غير له خدای سره وي.

هر يو له درې واړو چې پورته مو وويل، کېدی شي د انحراف لامل وي. د قرآن په گواهی، فرعون د هر دريو ادعا کوله. دا چې ويل يې: «...أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَى» [نازعات۲۴(۷۹:۲۴)] «...زه ستاسو لوړ ربّ او تر ټولو اوچت خدای يم». د هغه مطلب له دې چې «ستاسو رب يم» دا نه وو چې ما تاسو خلق کړي او پنځولي ياست بلکې ويل يې زه ستاسو يوازينی ارباب يم او تاسو فقط بايد زما خبره ومنئ او زما خبرې ته غوږ نيولي اوسئ؛ ستاسو د ټولنې ارباب زه يم. نو، فرعون د ربوبيت ادعا کوله. د هغه دويمه ادعا «ملوکيت» وو. «مَلِک» يعني پادشاه او د مُلک خاوند. او مُلک يعني سلطنت او د واکمنۍ اويجه او قلمرو. نو د فرعون دويمه ادعا دا وه چې ويل يې مُلک هم زما دی. ويل يې: «...قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ...» مگر د مصر مُلک، د مصر ځمکه، زما نه ده؟ «...وَهَذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي...» [زخرف۵۱(۴۳:۵۱)] مگر نبايد د نيل رود او څانگې يې زما په فرمان وويشل شي؟ يعني ددې اويجې او سيمې اوبه کول او خړوبول زما په فرمان دي او زه امر او دستور ورکوم چې کوم ځای ته دې اوبه ورکړل شي او کوم ځای ته دې ورنکړل شي. نو هم يې د ملوکيت او هم يې د الوهيت ادعا درلوده، چې ومو ويل د خالقيت په معنا نه دی.

يا هغه مهال چې د فرعون ساحرانو ايمان راوړ، وايي: «قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ» [شعراء۲۹(۲۶:۲۹)]. که له ما پرته مو کوم «رب» او «اله» اختيار کړ، تاسو به بنديان کړم او سخته جزا به درکړم. نو، فرعون غوښتل هاغه دريواړه ساحې په خپل کنټرول او موټي کې ولري. او دا يې انگېرله او ويل يې: امر زما امر دی؛ ټول خلک بايد زما د هوډ، ارادو او پټيل شوو شخه پليوني او

(c) ketabton.com: The Digital Library


پیروان اوسي. یوازې زه یم چې فرمان ورکوم. مالکیت زما دی او یوازې هاغه څوک چې تاسو ټول باید ورسره مینه ولرئ، زه یم. کله چې هغوی پر موسی ایمان راوړي، هغوی ته وایي: «...آمَنْتُمْ بِهِ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ...» [اعراف۱۲۳(۷:۱۲۳)] مخکې له دې چې زه اجازه درکړم پر هغه ایمان راوړئ؟! یعنې حتا ایمان، چې قلبي او د زړه چار دی، د هغه په اجازې پورې اړوند او تړلی وو! یعنې حتا ستاسو زړه هم ستاسو په خپل اختیار کې نه دی. په هر حال کې د انحراف او کږېدنې دا درې خطرونه تل د انسان لپاره شتون لري.

اوس، چې د قرآن په دې آخري سورة کې مو دا آګاهي پیدا کړې او غواړو خدای په آماني ورسره وکړو، خدای تعالی فرمایي د هغه دغو دریو ستاینونونو ته باید پناه یوسئ:

لومړی: قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ. ووایه هغه زما ارباب دی او زه هغه ته پناه وړم. د ناس ارباب یعنې د ټولو انسانانو ارباب او د عالم د ټولو اندیالو ارباب. «انسان»، یعنې هغه موجود چې د اند خاوند دی، باید اند وکړي چې د هغه ارباب دا دنیایي اربابان نه دي او نشي کېدلی اوسي.

حضرت یوسف خپلو دوو زنداني ملګرو ته وویل: «آیا مختلف اربابان بهتر دي یا پر ټولو مسلط او برلاسی یو خدای؟» «... أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ...»آیا خپاره او مختلف اربابان بهتر دي «...أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ». یا هغه اللّه چې واحد دی او د هستۍ پر جهان برلاسی دی؟ [یوسف ۳۹ (۱۲:۳۹)]
په دنیا کې تل له خدای تعالی پرته نور اربابان هم پیدا کېږي. دا اربابان هم کېدی شي قدرتمندان او سلاطین وي او هم روحانیون. دا سمه ده چې ربوبیت [ارباب او د اختیار خاوند توب] د ځواک او قدرت له درې ګونو څوکو څخه یوه ده، خو انسانانو عمدتاً د نورو دوو څوکو نماینده ګان هم د خپل «ارباب» په توګه نیولي دي؛ قرآن د یهودیانو او مسیحیانو په اړه راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي چې «خپل احبار او رهبان يې د خدای پر ځای «ارباب» نيولي دي» قرآن د مسيحيانو په اړه فرمايي: «اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ...». [توبه ۳۱(۹:۳۱)]. دوی د يو واحد خدای پر ځای، د خپل دين عالمان ارباب نيولي دي. څه ډول يې هغوی خپل اربابان نيولي دي؟ دا ډول چې؛ هغوی چې هر څه وايي؛ دوی يې دربست ټول مني د هغوی تقليد کوي، مقلدين يې دي. د هغوی عالمانو د خدای حلال، حرام او د خدای حرام يې حلال کړي دي او دوی منلي دي او هر څه چې هغوی ويلي دي دوی سر ته رسولي دي. همدې ته «ربّ» وايي، يعنې د هغوی په خدايي نيول او اختيارول دي. يعنې هر څه چې هغه وويل دوی يې مني، چون ارباب يې دی. نو کېدی شي د دين عالمان هم په ربّ مبدل شي؛ لکه څنګه چې سلاطين د انسان ربّ شي. هر څيز کېدی شي د انسان ربّ وي. دا هماغه ستر انحراف دی چې انسان ددې پر ځای چې اللّه خپل «ربّ» ونيسي، له هغه پرته نور په ربوبيت پيژني.

هغه خبره چې حضرت عيسی به تل ويله دا وه چې: «إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ...» [زخرف ٦۴(۴۳:٦۴)]. يوازې هغه اللّه زما ارباب او ستاسو ارباب دی. «...فَاعْبُدُوهُ...» د هغه عبادت وکړئ «...هَـذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ». [آلعمران ۵۱(۳:۵۱)] دا لار نيغه او سمه ده. فرمايل يې؛ ولې ما پسې راغلي ياست؟ زه څه کاره يم؟ هر څه چې دی هغه دی. ستاسو ارباب او زموږ د ټولو ارباب هغه دی. که زه بيمارانو ته شفا ورکوم او مړي ژوندي کوم، دا داسې کار نه دی چې زما له لاسه وشي، يوازې هغه دی چې دا قدرت او ځواک ورکوي؛ او ماته يې هم دا ځواک راکړی دی، زما هر څه چې دي له هغه دي. إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ هغه الله چې قطعاً او يقيناً هم زما رب دی او هم ستاسو ربّ دی. او داسې توجه په غير له خدايه بل هر چا ته تر ټولو ستر انحراف دی چې د بشر په تاريخ کې پېښ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د حضرت موسی په داستان کې هم وينو چې له فرعون سره د هغه ټول بحث د ربوبيت پر سر دی، نه الوهيت. تاسو وينئ پرله پسې فرعون ته وايي زه د «ربّ العالمين» له لور راغلی يم. او د هغه په ځواب کې چې پوښتي «ربّ العالمين» څوک دی، وايي ستا ربّ او ستا د پلرونو ربّ او ستا د نيکونو ربّ او زموږ د ټولو ربّ. او بيا فرعون وايي دا خبرې او مزخرفات څه دي چې وايي، موسی وايي؛ هغه د آسمانونو او ځمکې «ربّ» دی. بيا فرعون خپلو درباريانو ته وايي چې وويني دا سړی لګيا دی څه څيزونه وايي، موسی ورته وايي چې اللّه د مشرق او مغرب ربّ دی. او هغه دی چې ټول څيزونه د هغه په اراده او مشيّت څرخي او عالم د هغه په اراده ولاړ دی؛ هر څيز د هغه له مشيته پيدا کېږي دا هماغه يو حالت دی چې څوک له اللّه سره واوسي او له هغه سره ژوند وکړي.

کله چې موږ د چا په استخدام کې اوسو او رئيس ولرو، خپل ځان مکلف ګڼو چې ګهيځ د وخته کار ته حاضر شو او ناوخته نکړو ولې؟ چون ډارېږو تنخواه مو کمه نکړي يا له کاره مو ونباسي. ټول حواس مو هغه ته دي چې څه امر کوي او موږ څه کار بايد وکړو؛ ښه، څه ډول دی چې موږ خپل رئيس او د دنيا ارباب ته، چې مثلاً په اداره يا کارخانه کې يې کار کوو، په بشپړه توګه پاملرنه لرو او مراقب يو چې په هر حال کې د هغه رضايت جلب کړو او تل توجه لرو چې د هغه په استخدام کې يو او هغه کولی شي هره شيبه چې وغواړي له کاره مو وباسي، يا موږ ته امتياز راکړي، درجه مې ټيټه کړي، يا پورته مې يوسي؛ دا ټول د هغه په لاس کې دي. خو د جهان لپاره په کوم ارباب قائل نه يو؟ موږ له هر سيستم سره چې ژوند وکړو، بالاخره مافوق او يو رئيس منو او د هغه له غوښتنو سره سم عمل کوو، خو کله چې نوبت جهان ته رسېږي هغه له رئيس پرته ګڼو؟ البته همداسې او په ژبه يې منو، خو عملاً داسې چلن کوو چې ګواکې هغه شتون نه لري. «رب الناس» يعنې همدا، يعنې باور ولرو چې انسانان يو رب لري او بايد هغه ته پناه يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خدای تعالی په فرمان کې د اسلام پیغمبر ته هم د اهل کتاب سره د وحدت لپاره یو له دریو وړاندیز شوو شرطونو همدا، یو د بل ارباب نه نیول دي [آل عمران٦٤(٣:٦٤)]. هیڅ یو مؤحّد مجاز نه دی پیغمبران او پرښتې خپل ارباب ونیسي [آل عمران٨٠(٣:٨٠)]. «ربّیون»و [یا ربانیّونو] خدای تعالی د خپل واقعي ارباب په توګه پېژاند [مائده٤٤(٥:٤٤) او ٦٣(٥:٦٣)]، او پیغمبرانو خپلو پلیونانو او پیروانو ته ویل: تاسو پخپله د آسماني کتاب له تعلیم او تدریس سره ربّ پېژندی شئ [آل عمران٧٩(٣:٧٩)]. ومو ویل چې؛ له فرعون سره د موسی(ع) ټولې محاورې د ربوبیت پر سر وې، نه الوهیت [شعراء٢٣(٢٦:٢٣) تر ٢٨].

همدا راز له ابراهیم(ع) سره د نمرود ټوله دښمني او دلیل راوړنه د ربوبیّت په اړه ول «أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ» [بقره٢٥٨(٢:٢٥٨)]. آیا [د] هاغه چا [ماجرا] ته دي پاملرنه کړې چې [د تکبَر او ځواک له دریځه] له ابراهیم سره یې د هغه د پالونکي ښتن په انکار کې محاجّه [او استدلال] وکړ؟ سره له دې چې هغه ته واکمني خدای ورکړې وه! هغه مهال چې ابراهیم وویل: زما پالونکی ښتن هاغه څوک دی چې [پرله پسې] ژوند بښي او [د زوړتیا د قانون مطابق] مړه کوي یې. [نمرود] وویل: زه یم چې ژوندي کوم او مړه کوم! ابراهیم وویل: نو [چې داسې ده] خدای تعالی لمر له ختیزه راخېژوي، نو [که ته د هستۍ چلوونکی او واکمن یې] ته هغه له لوېدیزه راوخېژوه! نو [له دې استدلال سره هغه چې انکار یې کړی وو [مات او] هک پک شو. او خدای ستمګر خلک [د نېمکرغۍ او بریالیتوب] موخې ته نه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شمېر له لیده د «ربّ» نوم د «الله» له نوم وروسته په یوازې توګه په قرآن کې د خدای تعالی د کارول شوو ټولو نومونو سره [پرته له الله] برابر دی؛ د «ربّ» نوم د رَبَبَ له ریښې [د اختیار خاوند او د اداره کوونکي ارباب په معنا] ۹۸۰ ځلې، او د رَبَوَ له ریښې [د روزونکي، وده ورکوونکي او اوچتوونکي په معنا] ۲۰ځلې، په ټوله کې ۱۰۰۰ ځلې په قرآن کې تکرار شوی دی، په زړه پورې دا چې د «اللّه» نوم هیڅکله له ضمیر سره نه دی راغلی، خو د ربّ نوم [په ۹۷۰ موردونو کې چې خدای ته نسبت ورکول شوی] په ټوله کې له ضمیر سره یا د مضاف په بڼه راغلی دی. [لکه: رَبِّکُم، رَبِّ السَّمَواتِ وَالْأَرْض] او یوازې دوه ځلې له نورو صفتونو سره په ترکیب کې ذکر شوی دی [ربّ غفور، ربّ رحیم].

ربوبیّت، لکه مدیریت، معلمي او مربي ګري دوه اړخیز چار دی او پر یو ډول دوه اړخیزې اړیکې او تبادلې دلالت کوي، له دې کبله «ربّ» هیڅکله په خپلواکه بڼه له ضمیر یا مضاف پرته په قرآن کې نه دی راغلی. مشرکین ددې مستقیمې او نېغې اړیکې له نفې کولو سره، واسطو او نورو عواملو ته متوسل کېدل او هغوی یې د خدای په نزد خپل شفیعان ګڼل.

**دویم: مَلِکِ النّاسِ**. مَلِک هم د پادشاه په معنا دی او هم د مالک په معنا. په واقعیت کې د دغو دوو معناو ټولګه ده. دا جهان د اختیار او واک یو خاوند لري؛ یو پادشاه لري؛ د هستۍ داسې پادشاه چې په هغې کې یوازې د هغه حکم او فرمان جاري او ساري دی. ټولو انسانانو، د خپل ژوند په دوران کې، د خپلې زمانې د پادشاه فرمان ته سترګې درلودې او لري. البته په هر ځای کې اړین نه دی نوم یې پادشاه وي؟ په هر نوم یې چې وبولي، موخه یې هغه څوک دی چې واکمن وي، ځواکمن وي، فعلاً سپور دی، پلی نه دی. ټول انسانان هغه ته ګوري چې څه فرمان هغوی ته ورکوي. خو خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library


تعالی فرمايي فرمان د خدای فرمان دی؛ هغه د هستۍ پادشاه دی؛ يوازې هغه ته بايد پناه يوړل شي، نه دغو دنيايي «مَلِک»انو ته.

نو ملوکيت د توحيد د مثلث له دريو گوټونو څخه يو گوټ دی. ددې کليمې مشتقونه لکه: مَلِک [پادشاه، ټولواک]، مِلک، مُلک، مالک، ملائکه، او... په ټوله کې ۲۰۶ ځلې په قرآن کې تکرار شوي دي چې د پام وړ شمېر دی، چې د خدای «مالک»والی، د هستۍ د جهان په تصرف، واکمنۍ او حکم چلَونه کې د هغه ځواک او قدرت ځرگندوي. دا جملې چې د آسمانونو او ځمکې مُلک منحصراً خدای ته اړوند دي [وَ لِلَّهِ مُلْکُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ - لَهُ مُلْکُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ] ۲۲ ځلې په قرآن کې راغلي دي. همدا راز ټينگارونه لکه: بِيَدِهِ الْمُلْک [ملک د هغه د قدرت په لاس کې دی]، وَلَمْ يَکُنْ لَهُ شَرِيکٌ فِي الْمُلْکِ [د هغه لپاره په مُلک کې شريک نشته] په ډې توگه مطلقه توانايي او ځواکمني بيانوي. که هم يو چا له ملک څخه کومه برخه او سهم وړی وي او له هغه پر يوې برخې تصرف او لاسرسی ولري، يو بخشش او لورونه ده چې خدای تعالی موقتاً په لنډمهالې توگه په اختيار کې ورکړې ده: «وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْکَهُ مَنْ يَشَاءُ» [او الله خپل ملک هر چا ته چې وغواړي - «د يو لړ نظامونو مطابق» - ورکوي]. دلته د مُلک معنا همدا واکمني، بولندويي او حکم چلونه ده.

په قرآن کې خدای تعالی مَلِک هم نومول شوی دی، چې «د هستۍ د جهان د پادشاه يا ټولواک» مفهوم لري. هغه هم بې نهايت مقتدر مطلق پادشاه [مَلِيکٍ مُقْتَدِر]. خو له کومې چې د تاريخ په اوږدو کې معمولاً پادشاهان په ناحقه واک ته رسېدلي دي، هغه «مَلِکُ الحَقّ» نومول شوی دی او له کومې چې ډېری وخت سلطانان او واکمنان له واکه په ناسمې گټې اخېستو سره تورن، ناپاک او فاسد ول، خدای تعالی «مَلِکُ القُدُّوس» [بې نهايت پاک او سپېڅلی پادشاه] معرفي شوی دی. نو بې جهته نه دی چې د قرآن آخرين سورة داسې يو پادشاه ته له پناه وړلو سره نېکه پای او حُسن اختتام ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه یوازې ملک الناس [د خلکو پادشاه او ټولواک] په دنیا کې نه دی، د جزا ورځ هم د هغه پر حکم او فرمان چلېږي او هغه «مالک یوم الدین» [د جزا د ورځې حکم کوونکی او نیاومن] دی. که په دنیا کې یې په لنډمهالي توګه په انتخاب کې، اختیار او اراده موږ ته عنایت کړې او بښلې ده، مطلقه ملوکیت یې په آخرت کې ښکاره کېږي. «لمن الملک الیوم لله الواحد القهار» [د نن ورځې مالکیت د چا دی؟ د برلاسي واحد خدای]. که څوک د ټولو څیزونو مطلق مالکیت د خدای په انحصار کې وګڼي او د قدرت او ثروت د اربابانو او دنیا پالو پانګوالو د اعتباري مالکیت لپاره اصالت قائل نه وي، د توحیدي مثلث په پېژندنه کې یې مهم ګام اوچت کړی دی.

دریم: إِلَهِ النَّاسِ. «إِلَه» هاغه څه چې انسان پرې مین او له ځانه پرې تېر شي. یعنې تر دې بریده له هغه سره مینه او محبت ولري. دا نه د قدرت د کچې پر بنسټ دی او نه د ثروت او پانګې پر بنیاد. دا د انسان د زړه قصه ده، د الله تر نامه لاندې. تر لاندې ټولګه یې هنر دی او علم دی او په ټولیزه توګه ټول هاغه څیزونه چې زموږ له روح سره اړیکه لري؛ ټول هغه څیزونه چې موږ یې نمانځنه او پالنه کوو او د هغه نمانځونکي یو.

قرآن ددې شرکونو په ستاینه کې ذکر کړی دی او وایي: «ځېنې له خلکو د خدای پر ځای ورسره شریکان، ساري او مل نیسي او هغوی لکه د خدای په څیر خوښوي او مینه ورسره کوي! خو هاغو کسانو چې [رښتینی] ایمان راوړی دی تر ټولو زیاته دوستي له خدای سره لري»

وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللّهِ أَندَاداً او له خلکو ځېنې کسان له الله پرته نور کسان بولي يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللّهِ او داسې محبت له هغوی سره کوي لکه څنګه چې باید له الله سره محبت وکړل شي. وروسته وایي وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلّهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library


[بقره۱٦٥(۲:۱٦٥)] او هاغه کسان چې مؤمنین دي له الله سره په شدت مینه کوي، نو واقعي مؤمن د الله په نسبت تر هر څه شدید عشق لري، مؤمن نشي کولی له الله پرته په بل چا کې تم شي، دا که هر څوک وي؛ پیر وي، میر وي، امام وي یا امام زوی، یا که بل هر څوک وي یا هر څیز وي؛ مؤمن یوازې له خدای سره هاغه قلبي او احساسي تنګاتنګه اړیکه لري. نو، دا مورد هم یو له هاغو موردونو څخه دی چې شونی دی انسان منحرف او بېلارې شي.

نو «اِلَـه» یو لغت دی چې د هر هغه څه لپاره چې انسان یې د معبود په توګه نیسي، که هغه حق وي یا باطل وي، استعمالېږي. خو «الله»، له معرفه الف او لام سره «اله» [معبود]، له واحد خالق څخه یو تعریف دی چې د نمانځنې لپاره یوازینی وړ معبود ګڼل کېږي. د ټولو پیغمبرانو بلنه او د «شرک او توحید» په مبارزه کې اصلي مسئله د «ډېرو خدایانو» په مقابل کې «د یو خدای» تبلیغ دی. په الوهیت کې بله مهمه نکته، جامعیت او له هغه څخه د انحراف ډول ډول والی دی؛ د ځان پالو الهه د هغوی د خپل نفس هوا ده [فرقان۴۳(۲۵:۴۳) او جاثیه۲۳(۴۵:۲۳)]، د یو شمېر کسانو لپاره: خوسکی [طه۸۸(۲۰:۸۸)]، بُت [انبیاء۳٦ (۲۱:۳٦)]، پیغمبران [نحل۵۱(۱٦:۵۱) او مائده۷۳(۵:۷۳)] او نور مختلف ډوله الهه ګاڼې وې او دي چې کولی شي د هنر، علم، ورزش په نومیالیو کې او هر هغه څه چې د انسان دزړه څښتن شي او هغه پر ځان مین کړي، څرګند شي.

بشري ټولنې هیڅکله له نمانځنې او پالنې خالي نه دي، اصلي ستونزه، په نمانځنه کې شراکت او له توحیده انحراف دی. داسې برېښي چې په خدای پېژندنې، اسلام پېژندنې یا قرآن پېژندنې کې هر راز څېړنه او تحقیق ددې مثلث له دقیقې او له ځیرنې پېژندنې

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرته شوني نه دی او هیڅ یو ایمان به ددې مفهومونو معنایي اوېجې ته له تسلیم مخکې د قبلېدو وړ واقع نه شي.

مخکې مو وویل؛ یوازې ددې منل چې جهان یو خدای لري او یا موږ یو خدای لرو، چې ټول جهان یې خلق کړی، موږ یې خلق کړي یو، دا دینداري او توحید نه دی. مهم لـه خدای سره ژوند کول دي؛ له خدای سره تنفس کول دي. هغه خپل ربّ او هم مَلِک او هـم الـه ګڼل دي، هغه هـم د ژوند په ټولو شېبو کې، زموږ ټول خیزونه له هغه دي او د هغه دي. کـه یـوه شیبه د هغه عنایت او لورونه نه وي، موږ هیڅ خیز نه یو. نو دا جوتـه ده چې هره شېبه یوه تازه پنځونه ده، یوه لحظه، یوه شـېبه کـه پـه مـوږ کـې د وینې جریان قطع شي، یا تنفس مو بند شي او ساه وانخلو ، په موږ کې هیڅ نه پاتې کېږي. د ژوند هره لحظه په واقعیت کې خلق کېدنه پنځېدنه او معجزه ده.

نو داسې خدای ته، چې په هر درېواړو اړخونو کې زموږ خاوند دی پناه وړو. خو له څه؟ «مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ. الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ. مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ.»؛ مخکې مو ویلي ول چې د شرونو یـو ډول دننـی دی؛ د هغه دننی وسواس او دننی وسوسه ګري ده. یعنې هاغـه خیـز چې انسان ته لمسون او وسوسه کوي. د انسان نفس دی چې هغـه وسوسـه کـوي؛ هم پخپله خپل ځان وسوسه کوي، هم شیطان یـې پـه وسوسـه کـې اچـوي. آدم د دوو ځواکونـو پـه منځ کـې پـه کشـمکش کـې دی: عقـل او احسـاس [یاغریزې]. د سړي عقل وایي چې مثلاً مکـوه، سـم چـار نـه دی، درسـت نـه دی، ستا حق نه دی، خـو نفـس پرلـه پسـې انسـان تـه وسوسـه کـوي او هغـه تحریکوي چې هاغه څه چې عقل یې منع کـوي سر تـه ورسـوي. او شـیطان هم لمسونه کوي، نو انسان تل د دننیو او بیروني وسوسو په ښبه کې دی.

دلتـه چـې د «وَسْـوَاسِ الْخَنَّـاس» لفظونـه اسـتعمال شـوي دي؛ د وسـواس معنـا ده پـه بیـا بیـا پـه ځلونـو وسوسـه اچـووونکی، او د وسوسې

(c) ketabton.com: The Digital Library


معنا ده پرله پسې له داسې طريقې يا طريقو د چا په زړه کې کومه بده خبره اچول دي، چې د هغه چا په زړه کې چې هغه خبره اچول شوې وي دا محسوس نکړي چې وسوسه اچوونکي دده په زړه کې کومه بده کومه بده خبره اچولې ده. د وسواس [وسوسې] په لفظ کې پخپله د تکرار مفهوم نغښتی دی، لکه څنګه چې په زلزال [زلزله] کې د حرکت د تکرار مفهوم نغښتی دی. دا څرګنده ده چې انسان په يو ځل لمسونه نه غولېږي د هغه د غولولو لپاره پرله پسې کوښښ کول اړين دی، له همدې لامله دا ډول کوښښ ته وسوسه او کوښښ کوونکي ته وسواس ويل کېږي.

د «خناس» لفظ له خنوس څخه دی چې معنا يې ده له ښکاره کېدو وروسته پټېدونکی يا له راتګ وروسته بېرته شا ته تلونکی، او چون خناس د مبالغې صيغه ده نو ځکه معنا يې ده؛ دا فعل په کثرت کوونکی، له دې څخه دا خبره څرګندېږي چې وسوسه اچووونکی د وسوسې اچولو لپاره په ځلونو ځلونو سړي ته راځي، او له دې سره چون خناس هم ورته ويل شوی نو دا مفهوم رسوي چې وسوسه اچوونکی په ځلونو پرله پسې وسوسه اچوي او شا ته ځي او بيا بېرته پرله پسې د وسوسې اچولو لپاره راستنېږي. په بله وينا يو ځل چې د وسوسې اچولو کوښښ يې ناکامېږي ځي او بيا بل ځل د همدې کوښښ لپاره دوه ځلي، درې ځلي او بيا بيا ځلې ځي راځي. نو «خنّاس» هم هاغه څيز دی چې مخ ښکاره کوي او پټېږي، او دا کار په تکرار کوي. ليدلي به مو وي چې، د شپې په پيل کې، چې ستوري راوځي، هی سترګک وهي؛ ښکاره شي او پټ شي او بيا ښکاره شي او پټ شي او دا کار پرله پسې تکراروي، سړی ويني تل شته او نشته، شته او نشته. وسوسې هم همدا راز دي. تل شته او نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سړی نه پرېږدي، آرام او راحت یې نه پرېږدي. پرله پسې ځي او بېرته ستنېږي، افسرده او ځپلي انسانان دا راز دي. یو لړ خیزونه چې خیال کوي ویني او هغه تل په وسوسو اخته وي. حالت دائمي او تلپاتې نه دی، خو مزمن دی.

د «خَنّاس» کلیمې د پوهېدو لپاره په قرآن کې له یوازیني بل مورده، چې دا کلیمه په [تکویر۱۵(۸۱:۱۵)] سورة کې راغلې ده، کېدی شي مرسته واخېستل شي: «فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ. الْجَوَارِ الْكُنَّسِ.». د «جوار» کلیمه پر جریان او حرکت درلودلو، او د «کُنَّس» کلیمه پر پوښل شوي او پټ شوي دلالت کوي. ګواکې خنّاس د شیطان له تلپاتې وسوسه ګریو څخه وي چې منشأ او سرچینه یې ناڅرګنده ده او لکه د اعتیاد او روږدیتوب په څېر ځي او راځي او لاس نه اخلي [والله اعلم]. د هاغو کسانو حالت چې یو څیز ته وسواس او حساسیت ولري کېدی شي د شیطاني وسوسو د پوهېدو لپاره یو مثال وي.

فرض کړئ یو چا له مورې سره تُندي او تیزي کړې ده، داسې خبره یې کړې ده چې پر مورې بده لګېدلې، خو مورې هوډ کړی غبرګون څرګند نکړو، خو آیا مورې همداسې پاتې کېږو، آیا وسوسې مو پرېږدي. د شپې سړي ته خوب نه ورځي چې دا خبره مې اورېده ولې مې په همغه وخت کې ځواب نه دی ورکړی؛ هر څنګه چې کېږي باید ځواب یې ورکړم او باید غوږونه خلاص کړم او ښه په ادب یې کړم، چې بیا داسې جرئت ونکړي. ګهیځ یو ساعت مخکې سړی ویښېږي؛ تر ګهیځه سم خوب نه ورځي. ټول همدا یې په ذهن کې ګرځي. نه یې پرېږدي. همدې ته د «خنّاس» وسوسې وایي.

د وسوسې فعل سربېره پر دې سورة، په دوو نورو سورتونو کې شیطان ته «فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطَانُ...» [اعراف۲۰(۷:۲۰)] او «فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ...» [طه۱۲۰(۲۰:۱۲۰)]، او د «ق» په سورة کې د انسان نفس ته نسبت ورکړل شوی دی «وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library


[ق۱٦(۵۰:۱٦)]، چې البته دا هم د شیطان القاء ده نو کېدی شي وسوسه هم د انسان په نفس کې د شیطان سینګارونې او لمسونې او غولوونکې وعدې وګڼل شي چې هغه له توحیدي [مثلث: ربوبیّت، ملوکیّت، او الوهیّت] پناهځای څخه د دنیایي معبودانو، اربابانو او مالکانو لور ته سوق کوي.

د «وسواس الخناس» د مطلب تر پوهېدو وروسته اوس په دې خبره غور کول اړین دي چې له دې شره د پناه غوښتلو مطلب څه دی؟ له دې څخه خو يو مطلب دادی چې د پناه غوښتلو والا پخپله ددې له شره د خدای دُرشل کې پناه غواړي، يعنې له دې شره چې هغه کله هم پخپل زړه کې وسوسه وانچوی. دویم مطلب دادی چې د الله په لار کې د بلنې او دعوت کوونکي پرخلاف که کوم ځوک د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي او دا يې خپله دنده ګرځولي وي، د حق بلونکی د هغه له شره خدای ته پناه وړي، او د حق بلونکي ته نه ښايي چې هر وسوسه ګر پسې وګرځي او د خپلې بلنې دفاع وکړي بلکې دا بسنه کوي چې د وسوسه ګر د وسوسو له شره خدای ته پناه يوسي او خپله بلنه وغځوي او ادامه ورته ورکړي. په قرآن کې حق ته د بلونکي په اړه راغلي دي «وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ» [اعراف۲۰۰(۷:۲۰۰) او فصلت۳٦(۴۱:۳٦)] او هر مهال چې [له جاهلانو سره په مقابله کې] شيطاني لمسونه [د ورته مقابلې په توګه] پر تا غلبه وکړي، نو الله ته پناه يوسه چې بېشکه هغه پوه اورېدونکی دی.

همدا راز ووينئ قرآن متقي انسانان څه ډول ستايي: «إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَواْ إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ...» پرهېزګاران هغه مهال چې وسوسه يې له سره ګردچاپېره طواف کوي مثلاً يو شيطاني تصميم او ويلاړ يې په سر کې راګرځي، «...تَذَكَّرُواْ...» خدای ته پناه وړي او هغه يادوي او يو ذکر يې وايي او خدای ته پاملرنه کوي «...فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ.» [اعراف۲۰۱(۷:۲۰۱)] هاغه مهال نابېره بينا

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېږي. وايي کله چې پرهېزګار مؤمن پسې وسوسه راځي، تل خپل ځان ته تلقين کوي او يوه خدايي، اخلاقي او ديني مسئله ځان ته رايادوي چې وسوسه يې له سره لاس واخلي. مونږ د هاغه څيز له شره چې زمينه يې زمونږ په دننه کې ده، خو بيروني عامل لري، چې هغه شيطان دی او تحريک کوي، لمسونه کوي؛ يعنې بيروني عامل چې وسوسه کوي او ناڅرګند دی، خنّاس دی او معلوم او ځانګړی نه دی، په څه ډول بايد ترې خلاص شو. دا وسوسه ګر خارجي وجود نلري چې هغه وينم او ووايم له ما لاس واخله او د خدای لپاره ما پرېږده. ناڅرګند دی؛ دننني دی؛ پيچيده دی؛ نابېره څرګندېږي او د انسان زړه کې وسوسه اچوي: الَّـذِي يُوَسْـوِسُ فِي صُـدُورِ النَّـاسِ. هغه عامل چې د خلکو په سينو کې دی او هغوی ته وسوسه کوي.

د صدر يا صدور اصطلاح، په ټولو۴۴ موردونو کې چې [مستقل يا له ضميرونو سره] په قرآن کې راغلي ده، مجازي معنا لري او نشي کېدی د هغه نسبت د سينې قفسې ته ورکړل شي. د انسان صدر، د هغه همدا روحي ظرفيت دی چې د قرآن په تعبير، [ضيق صدر يا سِعه صدر] تنګ ليدی يا د پراخ ليد لرونکی کېږي «أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ» [انشراح۱(۹۴:۱)]، «وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ» [حجر۹۷(۱۵:۹۷)] او داسې نور موردونه، شفا مومي «...وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ» [توبه۱۴(۹:۱۴)]، «...وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ...» [يونس۵۷(۱۰:۵۷)]، او مرضونه لکه: ويره «لَأَنْتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِمْ مِنَ اللَّهِ...» [حشر۱۳(۵۹:۱۳)]، کبر «...أَتَاهُمْ إِنْ فِي صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ...» [غافر۵٦(۴۰:۵٦)]، نياز «...وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً...» [حشر۹(۵۹:۹)]، پټچاري «وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ» [نمل۷۴ (۲۷:۷۴)]، «يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ» [غافر۱۹(۴۰:۱۹)] او داسې نور..، دښمني«وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ...» [اعراف۴۳(۷:۴۳)]،

(c) ketabton.com: The Digital Library


او شيطان پکې ننوځي «الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ» [ناس۵(۱۱۴:۵)]، خداى تعالى سينې ازمايي «...وَلِيَبْتَلِيَ اللَّهُ مَا فِي صُدُورِ...» [آل عمران۱۵۴(۳:۱۵۴)] او خپل آيتونه په هغې کې ننباسي «بَلْ هُوَ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ فِي صُدُورِ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ ...» [عنکبوت ۴۹ (۲۹:۴۹)] او .... په دې ترڅ کې ۱۲ ځلې په قرآن کې د سينو پر ذات د خداى پر عليم والي ټينګار شوى دى «...وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ».

دا وسوسه څه ډول ده؟ کوم کسان وسوسه ګر دي؟ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ.

د جن او ناس له ډلې ګډل کېږي. د آدميانو اصلي نوم «ناس» دى، چې يوازې همدا د هغه د نورو نومونو [بنى آدم، بشر، بريّه، انس او انسان] له مجموعې څخه کابو دوه برابره په قرآن کې تکرار شوى دى [کابو ۲۴۳ ځله]، ناس عام عنوان دى، لکه «مردم» په فارسي ژبه کې، يا «قوم» په عربي ژبه کې، يا «خلک او ولس» په پښتو ژبه کې. په قرآن کې ۱۹ ځلې د «يَا أَيُّهَا النَّاس» خطاب راغلى دى. يعنې اى خلکو، چې په مجموع کې عرب، عجم، ترک او فارس، افغان او هندي او شرقي او غربي .... ټول رانغاړي.

«ناس» له «انسان» [او انس] سره توپير لري؛ ناس د «نَوَسَ» له ريښې او انسان د «اَنَسَ» له ريښې دى. د نَوَسَ په کليمه کې نوسان يعنې تحرک او پويايي او خوځښت او غورځنګ نغښتى او پټ دى؛ دې موجود له ډېر پخوا [له زرګونو کلونو] راهيسې، غرونه او دښتې او سيندونه او دريابونه وهلي دي او توانېدلي دي، ټولو لويو وچو ته لېږدېدنه او مهاجرت وکړي او له همدې ځيرنې، څېړنې، لټې او هڅې په توسه د ځمکې له اتموسفېره خارج شوى او افلاک ته يې سر رسېدلى دى!

خو د انسان [او اِنس] کليمه له اُنس نيولو سره له يوې کورنۍ ده، اُنس او الفت، احساسات او عواطف او آشنايي ته لېوالتيا او ټولنيز ژوند او پخپلو کې د يو بل شاوخوا ته راټولېدل او خبرې اترې او وينا کول د انسان له

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځانګړتیاو دي «...وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ...» [احزاب۵۳(۳۳:۵۳)] «بلکې هر مهال چې و غوښتل شوئ ورننوځئ او کله مو چې غذا وخوړله خپاره شئ او په خبرو اترو مه بوختېږئ؛ چې [ستاسو دا چلن] پیغمبر ځوروي»، «...لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا...» [نور۲۷(۲۴:۲۷)]، [هیڅ] کورته بې له خپله کوره [نابېره] مه ننوځئ، مګر دا چې پیژندنه ورکړئ [ترڅو ښه راغلاست درته ووایي] او د کور اهل ته سلام وکړئ. د ناس په کلیمه کې، د آدمي ټولنیز هویت او ځانګړتیا او د انسان په کلیمه کې، د هغه جسمي او روحي جوړښت او خپلواک فردي شخصیت، مثبت یا منفي، تر نظر لاندې دی. ناس او انسان متقابلې کلیمې لري؛ «ناس» تل د «جِنّه» او انسان تل د «جانّ» په مقابل کې راغلی دی. لکه: «خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ. وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ.» [رحمن۱۴(۵۵:۱۴) او ۱۵]. انسان یې [په کوزه ګرۍ او خاورین لوښو جوړونه کې کارېدونکې] کودړې په څېر له وچې ختې څخه وپنځوه، او جن یې د اور له ګډولې [او ترکیب] [= خالصه انرژي – بې لوګي اور].

ویل کېږي جانّ د جن جمع دی چې پر یو ډول ناپېژاندی، پردېوالي او نامأنوسوالي دلالت کوي، په زړه پورې دا چې په قرآن کې یې مار او اژدها (ښامار) هم [د موسی د عصا په بدلېدو کې] «جانّ» نومولي چې د هغه له پټ، ناغوښتي او ډارووونکي شتون څخه یو انځور دی. [نمل۱۰(۲۷:۱۰)، قصص۳۱(۲۸:۳۱)].

پوهېږو د جن په اړه له پخوانیو زمانو ویل کېږي پټ موجودات دي چې په سترګو نه لیدل کېږي. نه پوهېږم آیا تر اوسه مو داسې کوم څیز تجربه کړی دی چې کوم جن تاسو وسوسه او تحریک کړي؟ کوم جن مو ږ وسوسه کوي؟ څه ډول جن؟ د ناس نمونې او ډولونه مو ډېر لیدلي دي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library


جن څنګه؟ په دې لفظونو «جن» او «ناس» کې بايد د هغوی لغوي معنا تـه پاملرنه وکړو نه د هغوی مصداق ته، «جن» په قرآن کـې د هر شيز نوم دی چې پټ او مخفي او ناپېژندلی وي.

ساری يې دا دی چې قرآن وايي تاسو ټول د خپلو مېندو په ګېډه کې جن واست: «... وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ ...» [نجم۳۲(۵۳:۳۲)] تاسـو ټول بنيآدمان د خپلو مېندو په ګېډو کې اجنه واست. يعنـې څـه؟ مـورې جـن ولو؟ جن يعنې مخفي، او پټ، پنهان او ناڅرګند. آيـا هغـه موجـود تـه چـې د مور په رحم کې دی «جنين» نه ويل کېږي؟ «جنين» يعنې هر پټ او ناڅرګند څيز. مورې ټول د خپلو مېندو په رحم کې اجنه ولو، پټ ولو. قرآن وايـي کلـه چې شپه کېږي، هر څيز جن کوي. شپه هر څيز جن کوي. يعنې څـه؟ «فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ...» [انعام۷۶(۶:۷۶)] کله چې شپې ټـول څيزونـه پـر ابـراهيم جِن کړل، هغه يو ستوری وليد. باغ ته «جنت» وايي، ولـې؟ چـون د خـاورې مخ له چمن او شنيلي سره پوښل شوی دی. ليوني ته «مجنون» وايـي، چـون عقل يې پوښل شوی دی. ډال [سپر] ته «جُنَة» وايي، ددې لپاره چې سپاهي د هغه تر شا پټېږي. ددې کليمې مشتقات چې ووينو، يو ډول په هغـوی کـې د پټېدنې او نا څرګندېدنې معنا نغښتې ده.

په دنيا کې ډېری له څيزونو زمورې لپـاره پـټ دي او لـه دې ليـده جـن ګڼل کېږي. قرآن په ځلونو پرديو او نابلدو انسانانو ته جـن ويلـی دی. عربـانو ته وايي چې تاسو دا قرآن چې پيغمبر يې تاسو ته وايي نه منئ او باور پرې نه کوئ، خو يوه ډله له جن راغلل او قـرآن يـې واوريـده او خپـل قـوم تـه يـې ووېل چې وروسته له توراته يو کتاب راغلی او مورې پرې ايمان راوړی:

«وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَـمَّا حَضَـرُوهُ قَـالُوا أَنْصِـتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِمْ مُنْذِرِينَ. قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنْـزِلَ مِـنْ بَعْـدِ مُوسَى مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ... يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ذُنُوبِكُمْ...» [احقاف۲۹(۴۶:۲۹) تر ۳۱]. «او [در یاد کړه] هغه مهال چې خو تنه له جنّیانو [=نا پېژاندي خلک] مو تاته متوجه کړل چې قرآن واوري! نو چون د هغه [د خدای د رسول او د قرآن د تلاوت] په وړاندې حاضر شول، [یو بل ته یې] وویل: چوپ اوسئ [=سکوت!] نو چون [د قرآن تلاوت] پای ته ورسېد، د خپل قوم لور ته له آګاهۍ ورکولو [هوډ او انګېزو] سره ستانه شول.. ویې ویل: ای زموږ قومه [= وطنداړانو]، موږ یو کتاب ته غوږ ونیو چې له موسی وروسته نازل شوی او د مخکینیو کتابونو تصدیق کوونکی [=ادامه ورکوونکی] دی .... ای زموږ قومه، [تاسو هم] د خدای [پر لور] د بلونکي [بلنه] ومنئ، او پر هغه ایمان راوړئ چې [خدای] ستاسو له ګناهو تېر شي [= اغېزې او پایلې یې لېرې کړي] ....». او همدا راز «قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا. يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا. وَأَنَّهُ تَعَالَى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَلَا وَلَدًا.» [جن۱(۷۲:۱)تر۳]. [ای پیغامبره] وواېه: ماته وحی شوې ده چې [په رښتیا، نه خیالي] څو کسانو [د عربو له ژبې او فرهنګ سره] له پردیو څخه [د قرآن خبرو ته] غوږ کېښود او هاغه مهال یې [خپل قوم ته] وویل: موږ هېښونکې لوستونی [وینا او مطلب] اورېدلی دی، چې د ودې [= پرمختګ او کمال] پر لور رهبري کوي، چې پر هغه مو ایمان راوړ او هیڅکله کوم څوک د خپل پالونکي څښتن سره شریک نه نیسو. او [موږ مونداې ده چې] په جوته توګه زموږ د پالونکي څښتن برم او شان له دې ډېر ستر دی [او] څوک یې مېرمن او زوی نه دی نیولی.

دا کوم جنیان ول؟ چې وایي خپل قوم ته ولاړل او داسې یې وویل. «قوم» یعني خلک، انسانان؛ د تورات کتاب او قرآن خو د غیر انسانانو کتاب نه دی.

په قرآن کریم کې په ځلونو د مخالفینو له قوله راغلي دي چې ولې خدای د انسان پر ځای کومه پرښته زموږ د هدایت لپاره نه ده رالېږلې؟ او ځواب ورکوي چې که د ځمکې پر مخ پرښتو ژوند کولی، دوی ته به له پرښتو او د هغوی له جنسه پیغمبر لېږل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


«قُلْ لَوْ كَانَ فِي الْأَرْضِ مَلَائِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَاءِ مَلَكًا رَسُولًا» [اسراء۹۵(۱۷:۹۵)]. «ووايه: که په ځمکه کې پرښتې واى چې [لکه د آدميانو په څېر يې] هوسا او ډاډه ګرځېدنه - اوسېدنه کوله [= عادي ژوند يې درلودى]، هرومرو به مو هغوى ته کومه پرښته له آسمانه [د استازي په توګه] لېږله.»؛ دا کتاب د انسانانو لپاره دى؛ په هغه کې احکام دي؛ د جهاد احکام دي، د عبادت حکمونه دي، د غسل او تيمم په څېر يو لړ حکمونه په هغه کې راغلي دي، نو تيمم او غسل خو د جنيانو [پيريانو] په درد نه لګي. دا کتاب د انسانانو کتاب دى، نه د غير مادي او ناڅرګندو موجوداتو.

نو، څرګندېږي چې جن بايد وصف وګڼل شي نه موصوف. جن لکه د ښکلا او کرغېړنتوب په څېر صفت دى؛ پخپله ښکلا يا کرغېړنتوب خو نفساً خارجي وجود نلري، بلکې ښکلي او کرغېړن دي چې شتون لري. ډېر څيزونه کېدى شي ښکلي وي؛ ګل ښکلى دى، يا مثلاً يوه منظره ښکلې ده، يو کور ښکلى دى، سړى ښکلى دى؟ د ښکلي مصاديق او موصوفات مختلف دي او وجود لري، خو ښکلا په غير د هغه له مصاديقو شتون نلري. «جنّ» هم وصف دى. ډېر څيزونه کېدى شي له موږ څخه پټ وي. مثلاً هر څيز چې موږ پر هغه علم نلرو له موږ پټ دى، مثلاً ميکروب زموږ د پخوانيو لپاره جن وو. پرښتې زموږ لپاره جن دي. ډېرى له موجوداتو، چې ښايي په نورو کُرّو کې وي پر موږ جن دي. له پيغمبر^(ص)^ پوښتي؛ جن څه ډول دي، وايي هغوى درې طايفې دي؛ لومړى لکه د بادونو په څېر. چون باد يې نشو کولى ووينې. او په هاغه مهال کې خو يې انرژي او د جاذبې ځواک او نور ځواکونه نه پېژندل. پيغمبر په تولېزه توګه وفرمايل «جن»ونه درې ډلې دي. يوه ډله لکه د بادونو په څېر،

(c) ketabton.com: The Digital Library


دويمه ډله لکه حشاشات الأرض هاغه موجودات چې د ځمکې لاندې دي؛ د ځمکې په ژورو او کندو کې دي او هغوی نه وينئ.

موسی چې خپله امسا [عصا] اچوي، قرآن وايي لکه د جن په څېر وه: «..كَأَنَّهَا جَانٌّ..» [نمل۱۰(۲۷:۱۰)] د حضرت موسی د امسا په اړه فرمايي؛ جن شوه. څنګه يو جن؟ يعنې د مار په څېر شو. لکه ددې په څېر چې ګواکې د موسی په امسا کې مار پټ شوی دی. دريم هاغه خلک دي چې تاسو يې نه پېژنئ، تاسو ورسره نابلد ياست د هاغو «جنيان»ـو په اړه، چې قرآن يې واورېد، هم ترې همدا مقصد دی چې هغوی لکه د ځان په څېر وګڼئ. هغوی هم په ژوند کې حساب او کتاب لري، شريعت لري، يعنې هم ستاسو په څېر انسانان دي خو ستاسو لپاره پردي دي او تاسو هغوی نه پېژنئ. هغوی ستاسو لپاره جن دي. په هاغه زمانه کې دوی له خپل ښار او ټاټوبي خبر درلود او پر دې دوی نه پوهېدل چې نور ځايونه هم لکه آمريکا او استراليا او اروپا او داسې نور هم شتون لري او انسانان هم هلته شته او ژوند کوي. دا ټول د هغوی لپاره جن ول.

«انسان» د آدمي د نوع پر ذاتي ځانګړتياو او «اِنس» د هغه پر فرد دلالت کوي او په قرآن کې د «اِنس» کليمه ۱۴ ځلې د «جن» [د جان مفرد] په مقابل کې راغلې ده. ناس خلک دي او جِنّه پر پرديتوب يا ناپېژندل شوو موجوداتو او عواملو دلالت کوي. د پيغمبرانو منکرانو هغوی ساحر، کاهن او مجنون، او د اسلام د پيغمبر هم مهالو م شرکينو هم هغه جن وهلی او مجنون نوماوه، مقصد يې دا وو چې خبرې يې د خلکو د خبرو له جنسه نه دي، بلکې ديو او دَد او پيری او ناپېژاندو موجوداتو يې په روح کې حلول کړی دی. [مؤمنون۲۵(۲۳:۲۵) او ۷۰(۲۳:۷۰)، سبا۸ (۳۴:۸)]. خو خدای تعالی ورته ځواب ورکوي: آيا اند نه کوي چې د هغوی په هم کلام ملګري کې هيڅ ګډوډي او بې سدي نـ شته او هغه له څرګند خبرداروونکي پرته نه دی [اعراف۱۸۴(۷:۱۸۴) او سبا۴۶(۳۴:۴۶)] – «أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا مَا بِصَاحِبِهِمْ مِنْ جِنَّةٍ إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ».

(c) ketabton.com: The Digital Library


په «جِنّه» کلیمه کې د وهمونو او خیالونو پر بنسټ عقیدې او باورونه هم شاملېږي؛ مشرکینو له همدغو بې بنسټو عقیدو او باورونو سره د خدای او د هاغو تر منځ چې نمانځل یې [له بتانو نیولي تر طاغوتان او فرعونان]، یو نسبت ټینګوه او هغوی یې د خدای سپوري، د خدای واسطه، د خدای زوی او ....ګڼل: - «وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ».[صافات۱۵۸(۳۷:۱۵۸)]. «او هغوی د خدای او جنیانو [=د عالم ناپېژندل شوو څیزونو، پرښتو] تر منځ د کومې خپلوی [او نسب په اړیکو] قایل شوي، په داسې حال کې چې جنیان ښه پوه دي چې [په قیامت کې] احضار به شي.».

په لنډه توګه ویلی شو: «ناس» د «جنّه» په وړاندې، «انس» د «جن» په وړاندې او «انسان» د «جانّ» په مقابل کې دی.

البته د جن په اړه مفصل بحث اړین دی چې د قرآن په آیتونو کې له تحقیق او څېړنې څرګندېدی شي، چې البته په خپل ځای کې ورته نغوته شوې، د اوس لپاره په همدې بسنه کوو.

په هر صورت کې، مونږ خدای ته پناه وړو د هاغو وسوسو له شره چې دوه ډلې دي چې ځینې یې له مونږ پټې او ناڅرګندې دي او عاملونه او لاملونه یې نه پېژنو او ځینې یې پېژنو. په پخوا مهال کې نه پوهېدل د ساري په توګه که کوم وګړی به په غم، خپګان، اندېښنو او ارواییي کړاو اخته کېده، ویل یې مالیخولیا یې پیدا کړې یا «جنّي» [پیریانی] شوی دی او په همدې ډول هغه ته به یې ځینې نسبتونه ورکول. یا که مثلاً کومه میندواره ښځه به د حمل د وضع کولو پر موقع، او په اصطلاح د لنګون پر مهال، مړه کېده، ویل یې: «آل» چې د ډاروونکې ښځې په بڼه یو دیو دی، هغه وژلې ده. د چار په

(c) ketabton.com: The Digital Library


واقعيت نه پوهېدل چې څه پېښه شوې ده، يو لړ خيزونه يې په خپل خيال جوړول. نو، ټل يو لړ خيزونه دي چې موږ ته ناڅرګند او پټ دي؛ نه پوهېږو له کوم ځايه دي او لامل يې څه څيز دی. د ساري په توګه ولې پلانکی سړی تر دې کچې عصبي حالتونه لري؛ ولې عقده يې دی، ولې دا پېچلتياوې لري. نه پوهېږو ريښه يې څه څيز دی او څه ډول ده. ځينې يې چې البته څرګند او ځانګړي دي پېژنو. «ناس» هم د هاغو خيزونو په ګڼه او رديف کې راځي چې مأنوس دي او زموږ لپاره روښانه دي او موږ له هغه آګاه يو؛ د هغه بر لامل پوهېږو او هغه پېژنو؛ لکه ميکروب چې پرې پوهېږو څه څيز دی؛ لکه څنګه چې طبيب او درملګر هم د هغه د له منځه وړلو لار او د بيمارۍ په درمل پوهېږي، که هغه جسمي بيماري وي، او که روحي وي.

قرآن له داسې دوو سورتونو سره پای رسېږي او ختمېږي چې له موږ څخه بيروني شرونو او هاغه شرونه چې په موږ کې دننه دي او زمينه يې په خپل ځان کې لرو. په هر دواړو سورتونو کې يې هم زموږ پناه ورکوونکی د رب په نوم ياد کړی دی:

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ. او قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ.

انشاءالله خدای تعالی دې موږ ته توفيق راکړي چې دهغه د«ربوبيت» او «ملوکيت» او«الوهيت» په پناه کې وکولی شو په خالصانه توګه بنده ګي وکړو.

لويه خدايه! موږ ددغو وسوسه ګرانو او د ټولو «وسواس الخناس» له شره وساته!

پالونکي څښتنه! د دښمنانو دامونه سخت او پېچلي دي، او دښمن وينښ دی، او نقشې يې پټې او ناڅرګندې دي، او ستا له لطف پرته نجات ناشونی دی.

صدق الله العليّ العظيم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**یادونه:** ددې تشریح د لیکلو پر مهال لاندینیو سرچینو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ ــ نظم قرآن ــ د عبدالعلي بازرګان لیکنه

۲ ــ آشنایي با قرآن ــ د مرتضی مطهري لیکنه

۳ ــ في ظلال القرآن ــ د سید قطب لیکنه

۴ ــ تفهیم القرآن ــ د مولانا سید ابوالاعلی مودودي لیکنه

۵ ــ تدبر قرآن ــ د مولانا امین احسن اصلاحي لیکنه

٦ ــ قرآن حکیم [ترجمه و توضیحات فارسي] ــ عبدالعلي بازرګان

۷ ــ المیزان في تفسیرالقرآن ــ د سید محمدحسین طباطبائي لیکنه

۸ ــ کابلي تفسیر [قرآن کریم ترجمه او تفسیر ــ مولانا محمود الحسن دیوبندي او علامه شبیراحمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو یوه ډله

۹ ــ پرتوی از قرآن ــ د سید محمود طالقاني لیکنه

۱۰ ــ تفسیر نمونه ــ د آیت الله مکارم شیرازي او د ورسره علماو د پلاوي لیکنه

۱۱ ــ تفسیر نور ــ د مصطفی خرمدل لیکنه

۱۲ ــ تابشي از قرآن ــ د سید ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي لیکنه

۱۳ ــ تفسیر باران ــ د دوکتور مهدي خُدّامیان آراني لیکنه

۱۴ ــ ترجمه تفسیر طبري ــ د حبیب یغمائی په اهتمام او تصحیح

۱۵ ــ تفسیر ابن کثیر ــ [حافظ عمادالدین ابوالفدا اسمعیل بن عمر ابن کثیر الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي

١٦ ــ معارف القرآن ــ د مولانا مفتي محمد شفیع لیکنه

۱۷ ــ تفسیر مصباحین (اردو) ترجمه و شرح تفسیر جلالین ــ لیکونکي : جلال الدین محلي او جلال الدین سیوطي ــ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لیاقت علي رضوي

۱۸ ــ تفسیر کمالین د جلالین تفسیر اردو شرح د : مولانا محمد نعیم دیوبندی

۱۹ ــ د قرآن عظیم الشان پښتو ژباړه ــ مولوي قیام الدین کشاف

۲۰ ــ عزیزالتفاسیر ــ د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر ــ مولوي سلطان عزیز (عزیز)

۲۱ ــ صفوةالتفاسیر ــ د محمدعلي الصابوني لیکنه ــ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده

۲۲ ــ د قرآن پلوشې ــ د ګلب الدین حکمتیار لیکنه

۲۳ ــ تفسیر دیوبندي ــ د مولوي عبدالحنان لیکنه

۲۴ ــ حکمة القرآن ــ د مولوي امین الله پېښاوری لیکنه

۲۵ ــ تفسیر ایوبي حنفي ــ د مولانا محمد عبیدالله ایوبي لیکنه

۲٦ ــ تفسیر احسن الکلام ــ د مولوي عبدالسلام رستمي لیکنه

۲۷ ــ قرآن کریم په پښتو ــ د اجرالدین اقبال ژباړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۸ـ شرحـي بـر سـوره هـاى قـرآن ـ عبـدالعلي بازرگـان ـ د عبـدالعلي بازرگـان وېـب پاڼـه [bazargan.com]

۲۹ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.

۳۰ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز.

۳۱ ـ روح المعـاني فـی تفسـيرالقرآن العظـيم والسـبع المثـانی ـ العلامـه ابـی الفضـل شـهاب الـدين محمودالالوسی البغدادي.

۳۲ ـ تفسير جواهرالقرآن ـ مولانا حسين علي.

۳۳ ـ تفسير روح البيان ـ شيخ اسماعيل حقی البروسوی.

۳۴ ـ «کنزالايمان او تفسير نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي.

۳۵ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري.

۳٦ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي.

۳۷ ـ تفسير الفخرالرّازی المشهور بالتفسيرالکبير و مفاتيح الغيب، امام محمد الرازی فخرالدين.

۳۸ ـ التّفسيرالمبين ـ دوکتور عبد الرحمن بن حسن النّفيسه.

۳۹ ـ تفسير قرطبی ـ محمد بن احمد بن ابوبکر قرطبي، ترجمه اردو: پيرمحمد کرم شاه.

۴۰ ـ المفصل في تفسـيرالقرآن الکـريم ـ المشـهور بتفسـيرالجلالين ـ للامـام جـلال الـدّين المحـليّ والامَام جلال الدِّين السّيُوطيّ.

۴۱ ـ «سير تحوّل قرآن» ـ مهندس مهدي بازرگان.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library